2012

# تربیتی روانشناسی

# EDUCATIONAL PSYCHOLOGY

سیدانور "اکبری"

Ghazni University

4/5/2012

سریزه

ګرانو محصلینو:لکه څنګه چې د ټولنې خلکو ته روښانه ده زده کړه او پرورښت دهري ټولنې دخلکو او دهغې ټولنې د سمبالتیا لپاره ضروري ده نو له دې کبله  تاسو ګرانو محصلینو په لومړي کال کې دارواپوهنې عمومي معلومات تر لاسه کړل د ارواپوهنې له  اساساتو سره اشناشوئ او تر ډیره حده د دغې وظیفې سرته رسول اسانه او ساده بنه نلري یعني تعلیم اوتربیه ټول دخلکو یوې ټولنې ته دهغې ټولنې دضرورت په اساس اسان او ساده نه ده .دغه هدف  ته ریسدل زحمت اسیتل اصول او اساسي طریقه په لاس را ورل دي. که چېرته په دغه سمستر کې تربیتي ارواپوهنه په اصولو ولاړه او اساسي طریقو تدریس شي نو بې له شکه ویلا ی شو تر ډیره حده به   دزده کړې او پرورښت ستونزې حل کړي نو له دې کبله د تربیتي ارواپوهنې په باره کې معلومات او زده کړه دهر محصل لپار ضروري او طبعي امرکېداشي.  تر څو په یوه ټولنه کې خپل مسولیت ته مری ورکړي او دېو لنې د ضرورتونوپه اساس خلک تربیه کړي نو ویلای شو چې زده کړه او معلومات د تربیتي ارواپوهنې د یوه محصل لپاره له ارزښته ډکه موضوع ده

تربیتي ارواپوهنه په مختلفو مسائلو کې لکه کوچنیان نوي ځوانان له محیطه تر ښوونځي ان تر کوره پوري تر څېړنې لاندې نیسي. د دقیق او صحیح پېژندنې په اساس دسړي وضعیت،استعداد ،ځواکونه، رنګا رنګ ستونزې اقتصادي ،فرهنګي ،اجتماعي او داسې نور.. داجتماعي ضرورتونو په نظر کې درلودلوسره تربیتي تګلاره خپل معیار جوړوي .

تر هغه ځایه پوري چې  ارواپوهنه په زده کړه او پرورښت کې مهم رول لري اوپه همغه اندازه چې جامعه پېژندونکې په خپله جامعه کې فرهنګ دهر قوم خاص تاثیرات لري ،علمي او فلسفي نظریات او دفکرکولو طریقې لپاره د دینې تعلیماتواو دیوه تربیتي انتخاب د جوړولو اصول په ښوونه او روزنه کې د ښوونکې لپاره یوه ځانګړې تګلاره جوړوي

نو له دې کبله د ارواپوهنې تدریس محصلانو ته خاص کومک ورکوي تر څوپه خاصو فکتورو او پرنسیپ په  عیني او رواني زده کړه اوتدریس ویوهیږي او همدغه زده کړه یا تدریس په علمي او عاملي  توګه تر لاسه کړي اوپه راتلونکې کې په حیث دیو یوه او مسلکې ښوونکې په توګه وکولای شي دزده کوونکو پوښتنو ته مثبت ځوابونه وړاندي کړي

بسم الله الرحمن الرحیم

# لومړي فصل

## تربیتي اروا پوهنه

د تربیتي اروا پوهني تعریف او موضوع : تربیتي اروا پوهنه دعلمي او مستقیل نظام ترعنوان لاندي په عمومي ډول اروا پوهنه په ښوونه او روزنه پوري اړه لري. په خاص ډول د ښووني اوروزني اساسي لاري پیدا کوي او له هغه ځایه چي ښوونه اوروزنه یو تولنیز امر دی. د هغه اجراکول د دوو وګړو یعني زده کونکي او ښوونکي په واسطه سرته رسیږي . نو له دي کبله ښوونه او روزونه په واقعیت کي عملي کار دی او دښوونکي په واسطه سرته ریسږي. نو له دي لاري په زده کوونکو پوري اړه لري نو په روزنه کي دری مهم عناصر رول لوبه وي .اول: زده کوونکي دوهم: روزنه دریم :ښوونکی. یو ښه پوه ښوونکي په خپله روزنه کي هغه وخت برلاسه کیداشي چي روزنه او زده کونکي په ښه تو که وپیژني او پدي و پو هیږي چي ښوونه او روزنه څه شي ده؟ او دڅه لپاره او څنګه باید سرته وریسږي ؟ هغه څوکه چي تر روزني لاندي نیول کیږي باید کوم استعداد، علاقه اوضرورتونه ولري ؟ او خپلي تربیتي ځانګیرني باید په دغه خوصوصیاتو باندي ولاړي وساتي. عمومي اروا پوهنه دخلکو په پیژندګلوي کي له ښوونکي سره بي اندازي کومک او همکاري کوي تربیتي اروا پوهنه هغه ته په ډاګه کوي چي څنګه د اروا پوهني تجربي په ښوونه او روزنه کي په کارو اچوي چي تر ډیره حده دا یو ضروري امر په دوو پړاوو کي کیداشي اول داچي کوچنی څنګه د پروربنت او بشپړتیا دوري ته رسیږي دوهم څنګه زده کړه لاس ته راوړي مخکي له دي چي د تربیتي اروا پوهني تعریف ته لاړشو دی باید پدي وپوهیږي چي د ښوونکي کار او دنده کوم ابعاد تر څیړني لاندي نیسي ځکه چي دښوونکي دنده تنها په ښوونځي کي دهغه حضور نه ده او په زده کوونکي باندي هم دا لازمه نه ده چي ښوونکی څه واي هغه باید زده کړي ځکه چي ښوونکي تر دي ډیري مهمی دندي لري چي په لنډه توګه هغه په درى ډوله باندي ویشو.

۱- ددرسي موادو انتخاب او براره ول : ښوونکي اول باید مواد او مضوع چي د زده کوونکي دزده کړي لپاره دي منظم او انتخاب کړي تر ډیره حده داخبره ډیره ساده ښکاري ولي په عمل کي تر ټولو سخت او دشواره کار دی پدي خاطر دغه کار زیاتره وخت موسیساتو او خاصو خلکو ته سپارل کیږي خو تر ډیره حده بیا هم ښوونکي ته کوم خاص کومک نه ور ښبي ولي بیا هم ښوونکی تصمیم نیوونکی دی او تر ډ یره حده باید ښوونکی د روزني په موادو بسنه ونکړي ولي ټولو هغو هدفو نو ته باید ځان ورسوي چي په ښوونه او روزنه کي لازم بلل کیږي

یا په بل عبارت ښوونکی باید ځانته لاندي سوالونه مطرح کړي

۱ کوچنی څه شی باید زده کړي ؟

۲ ښوونکی څنګه  باید خپل درس شروع کړي ؟

۳ څنګه باید  دزده کړي مواد او موضوع دزده کوونکي له ژوند سره اړیکې ولري ؟

۴ د ښوونځي وخت باید څنګه په مختلفو وختونو باندي وویشو ؟

۲- دزده کړي لارښووني : ښوونکی دزده کونکې دزده کړي لارښووني تر څیړني لاندي  نسي او زده کونکې ته وايي چې څه مطلب باید زده کړي او خپلې زده کړي ته باید څنګه رسیدګي وکړي او دنده يي ورته ښي. په دغه ټولو فعالیتو نو کې ښوونکی له تربيتي ارواپوهني څخه کار اخلي ځکه چې تربیتي ارواپوهنه  موږ ته ښي چې په زده کړکې باید له کومو موادو څخه کار واخلو او څنګه باید زده کوونکې زده کړي ته راودانګي او یا د زده کوونکې هیردل څنګه حد اقل ته را ورسوي یا کومي کړنلاري باید سرته ورسوچې ده زده کړي  په لارښونکې له موږ سره کومک وکړي

۳- ارزونه : ښوونکی غواړي چې وپوهيږي چې د ده دنده ديوه ښوونکې په توګه څنګه سر ته رسيدلې

او زده کوونکې غواړي چې وپوهيږي چې څه او  څه ډول زده کړي په لاس راوړي او پدې اساس مور او پلارهم خپل معلومات پيداکوي. نو ښوونکې باید د زده کوونکې فعالیت وسنجوي او هغه تر فعلیت  لاندي ونيسي دي هدف ته د رسيدلو په منظور ښوونکی باید  ازمويني واخلي او یا هغه ازمويني چې متخصیصانو جوړي کړي له هغه څخه استفاده وکړي او دغه ارزونه باید دزده کونکاودهغوئ دکورنی په اختيار کې ورکړي کله چې د زده کوونکې ټولي درسي پرمختیاوي معلومي شي نو ښوونکې خپل جدي هوډ دتربيتي ارواپوهني تر څيړني لاندي نسي او پدې کې ارزونه مهمه کنې

دتربيتي ارواپوهني هدف او موضوع : «لند کرن» عقیده درلوده چې دتربيتي ارواپوهني په اساس هدف دښووني او روزني صحیح پوهيدل او درک کول دي. یعني له ښوونکې سره په ښه توګه کومک کوي دښي  پيژندګلوي په برخه کې  دغه پیژنګلوي تر ډیره حده موثره پیژندګلوي ده. چې په علمي تحقیاتو باندي ولاړه ده نه په شخصي نظريو باندي په عمومي توګه  د روزنيزو کړنلارو هدف تغيرات او پيداينبت دی  چې معمولاً په ښوونځي کې صورت نسي په خاصه تو ګه دغه تغيرات چې دزده کړي په دوره کې په يوه ټولګي کې رامنځته کيږي همداشان ( لیند کرن) عقیده در لوده چې په  تربيتي اروا پوهنه کې باید لاندي دريو موضوع ګانو ته  زياته پاملرنه وشي.

زده کونکی یا اخذ کوونکی :عبارت له هغې ټولی څخه دی چې په يوه ټولګي کې را ټوليږي یعني هغه کسان چې دروزني برنامه دهغوئ په خاطر منځ ته راځي  ټول هغه فعالیتونه چې په ټولګي یا ښوونځي کې رامنځ ته کيږي  باید د هغو شخصیتونو ته خاصه پاملرنه وشي. نو بي له شکه ویلای شو دغه پاملرنه په یوه جامعه کې په خاصه توګه  لکه پروربنت او تکامل  مختلف مسایل  تر سره کوي.

۲ – دزده کړي عوامل : هغه څه چې زده کوونکی يې په زده کولو کې ترسره کوي دا يو پر له پسي جريان دی چې د پيدايښت له مر حلې څخه شروع او تر هغه وخته پوري ادامه لري تر څو چې ژوندی وي موږزده کوو تر څو د ځان او نورو په باره کې څنګه علاقه ولرو

تربيتي ارواپوهنه دو علمي او تجربي برخي لري موږ زده کو تر څو دوست او دښمن و پيژنو نو وروسته انسان هميشه د تغير په حالت کې دی حتا تر هغه وخته پوري چې موږ فکر کوو چې نه يې شو زده کولای او که چيرته د درس په موضوع باندي ونه پوهيږو او يا هغه څه چې ښوونکی نه غواړي چې زده کوونکی يې زده کړي. ولي زده کوونکی يې زده کوي نو له دې کبله تربيتي ارواپوهنه په هغو ټولو  موضوعاتو باندي کافي ځيرنه لري چې دزده کړې په برخه کې دي.

دزده کړي ځای : دزده کړي دځای څخه منظور دا دی چې په زده کړه او زدکوکنې باندي تاثير ولري نو ويلای شو چې د ټولګي وضعيت هم د  زده کړي  يوه برخه ده. نو له دې کبله هغه څه چې د موږتر ځيرني لاندي راځي او زيات اهميت لري ،علاقه او دښووونکي کړنلاره ،.دټولګي وضعيت ، د ښووڼځي چاپيريال او داسي نور.... نو له دې کبله تربيتي اروا پوهنه زيار باسي تر څو ښوونکی له ښووني او روزني سره ښه پيژندګلوي ولري. څرنګه والي او يا داسي وسايل او لاروچارو څخه کاراخستل دي چې د ښووني او روزني پروسه چټکه او اسانه کړي

دتربيتي اروا پوهني اړيکي له پر مختللي ښووني او روزني سره : د تربيتي ارواپوهني عمومي هدف عبارت له زمينه برابرول هغو منظمو حقايقو ته دي چې هميشه ښووني ته ځواک ور ښبي تر څو يوه فرهنګي او روزنيزه ټولنه را منځته کړي يا په بل عبارت  تربيتي ارواپوهنه په اساسي وسيله له  ښوونکي سره کومک کوي تر څوپه  ښه توګه زده کوونکي و پيژني نو يې له شکه معاصره ښوونه او روزنه د ارواپوهني په تجربو ولاړه ده. دغه اړيکي تر هغه اندازي قوي دي چې ښوونه او روزنه ورته په خاصه توګه ګوري نو له دې کبله ښوونکی هغه وخت په موضوع برلاسه کېداشي چې له دواړوبرخو څخه کافي معلومات ولري.  ښوونه او روزنه هميشه لکه نوري ټولنيزي واقعي هميشه په حالت د تغير کې دي دغه تغير هميشه دځای او وخت په تيريداسره ده نو له دې کبله بايد په ياد ولروچې بغير له ژونده امکان نه لري نه بايد ددغه دواړو واقيعو ترمنځ فرق راشي يعني ښوونه او روزنه لکه د ژوند څپه هميشه په حالت د تغير کې ده او نشو کولای چې کو چنيان په يوه ټولنه کې په  يوه شکل  باندي وروزو ، پدي اخيرو دووپيريو کې په ځانګړې ډول پدي اخيرو کلونو کې د تربيتي ارواپوهنو مطلعاتو خاصي لاسته راوړني درلودي چې ورته کولای شو پرمخ تللي او معاصره ارواپوهنه  وواېو اما زياته توجه بايد ولرو چې تربيتي اروپوهنه ترا وسه لايو علمي ځوان دي نشي کولای ټول هغه حقايق چې د انسان په کړنلاره پوري مربط دي لاسته راوړي اما دا بايد له ياد ونه باسو چې په ښوونه او روزنه  کې تر ټولو کاميابه رول تنها او تنها ارواپوهنه لوبه ولاي شي نو له دې کبله هغه ښوونکی چې داروا پوهني نه نا  خبره وي هغه تنها کولای شي چې دخپل سالم عقل په اساس رفتار وکړي چې تر

ډیره حده دغه رفتار کامیاب او قابل داعتماد نشي کېداي

ښوونه او روزنه د اروا پوهني له نظره :ښه تدریس رنګا رنګ نظریو ته ضرورت لري خو زیاتره وخت ښوونکی هم له ذهني اشتیباهاتو او دشواریو سره مخامخ کېږي مثلاً:ډیری وخت اوریدل کېږي چې هغه زده کوونکی کار نه کوی یا هغه همیشه خبري کوي زه یې تر ستوني رارسولي یم یا بعضي وخت ښوونکی وایي مورچې داسي کوچنی زیږولی له هغه څخه د ښو صفت لری دی . داهغه خبري دي چې هیڅ معني او اعتبار نلري ځیر ني ښي چې هیڅ ځوک هم نه غواړي چې بد صفته وي ټول غواړي چې په ښه صفت باندي یاد شي او همیشه دنورو په خوشحالیو کې وزنګیږي خو یو ځوک چې د ښې کړنلاري مخنیوی کوي حتماً یو علت لري شاید دغه علت په ډیره اساني سره پیداشي مثلاښوونکی مکلف له دي چې زده کونکی ووهي باید دهغه دکړنلاري څخه ځان خبرکړي چې په لاس باندي نه راوړي یعني لاس رسي ورته نلري

دمختلیفو میتودنو پرنسپ او دزده کوونکي زده کړه موږ ته په ډاګه کوي چې په کومو اصولو او اساسو باندي تدریس وکړو ولي کوچنیان (ماشومان ) په یو ډول میتود لویږي اما مختلیف شخصیتونه ځني جوړیږي

۱- کم عوامل لفظي زده کړه دشواره کوي

۲-ولي ډیری خلک تر نورو زیاتره فعاله دی

۳-ولي ډیر زده کونکي په بعضي بر خو کې فعاله او ځواکمن وي ولي په ډیرو کې کمزوري

هریو له پورتنیو پښتنوڅخه په خپل ځان کې نوري پښتني جوړه وي

په عمومي توګه دغه ستونزي باید څنګه حل کړو باید په یاد ولرو چې اروا پوهنه نشي کولای چې دي یوي کړنلاري لپاره یو مشخص تغیر پشنهاد کړي. مکرراواپوهنه د روزنیزي برنا مې سره کومک کوي تر څو درک کړای شي او قوي میتودونه کشف او دهغو څخه استفاده وکړي

د زده کړي اهداف او اړیکي د رفتار داهدافو سره : پو ښتنه کېږي چې ښوونه او روزنه په زده کوونکوکي کومو شیانو ته وړتیا ورکوي زیاتره خلک دغو پښتنو ته دمضامینو فهرست وړاندي کوي مګر ډیر وخت دغه فهرست نشي کولای چې ارزونه په ښه توګه په لاس راوړي . هیڅ ډول د زده کړي مواد په تنهاي نشي کولای دزده کونکو روحیې ته ځواک وروبښي مکلف له دغه تدریس نه هره ماده مختلفه کړنلاره لري یا مکلف له دي څخه چې دزده کړي په مضمون رڼا واچوو یومثال وړاندي کوو: دتربیتي اروا پوهني یو محصل د دي لپار دانګلیسي د زده کړي یو ټولګي ته ددنه کېږي تر څو دهغه ټولګي درسي میتود وکوري کله چې دټولګي نه را بهر شي نو د ځان لپاره یو انتقادي ریپورټ جوړه وي. دی په خپل ریپورټ کې داسي لیکي دانګلیسي ژبي زده کونکی زده کړه نه کوي د مطالعي په ځای جمله بندي کوي او د ریپورټ په اوریدو اوپه خپل منځي خبرو مشغول دي او داسي په نظر رسیدل چې هیڅ نه زده کوي زه نه پوهیږم چې ښوونکي دغه کار ته د انګلیسي زده کړي ته دتحصیل نو م ورکړی

دغه سبب دی چې زده کوونکی کله پوهنتون ته ځي هیڅ نه زده کوي ددغه محصیل نظر ډېر توند دی ځکه چې
هغوئ پدي نه پوهیږي چې ښوونځی په زده کړه برسیره جمله بندي او دستور ولري دزده کوونکي کړنلار ه
ارزښتناکه تغیرات له ځان سره پیدا کوي د دغه ټولګي کار ته په دقت سره هر فعالیت مشخص فعالیت لري
دځیرني په اخیر کې نوموړی محصل چې د درس وضعیت څخه یې شکایت کړی وو خپل نظر ته تغیر ور کوي او
داسي یې وویل کتابچې څخه داستفادي کولو طریقه هغه څه دي چې هر زده کوونکی یې باید زده کړي او همداشان
په خپله مورنی زده کړه کي باید د ریپورټ جوړولو طریقه هم ور وښودل شي ولي اوس هم پدي عقیده یم چې ټول
درسي ساعت باید د ښووني لپاره ځانګړی کړي. نو پدي منظور شاید هغه دکال په اخیر کې داسي تصور وکړي
چې نوموړي محصل خپلې غلطیاني ځانته په ګوته کړي

ځکه چې دژبي دستور په تنهاي سره غالباً کومه فایده نلري شاید تر ټولو لویه خطا دغه ډول روزنه وي ولي ګمان
کوم انسان باید هغه څه زده کړي چې دورځي یې په کتاب کې وایي

هغه زده کړه چې په روزه نیزه علاقه او نفرت باندي لاسته راځي په مراتبوله هغي زده کړي څخه چې په املا،تاریخ
، جغرافیه او کیمیا څخه مهمه ده ځکه هغه څه چې دکوچني راتلونکی جوړي ډېر ارزښتناک دی هغه د هغه کړنه لار
ده نه زده کړه. مهمه کړن لارچې باید زده شي هغه ښه فکر کول ، علاقه دمطالعي او زده کړه ده

دکوچني (ماشوم ) جوړول په ټولنه کې : دکوچني ماشوم جوړول یا اماده کول په یوه ټولنه کې د مسئولیت لپاره ډېر
سخت کار دی او کولای شو ورته د سختي نوم ورکړو بشري یا خیر خوا ډلګی یا هغه څوک چې په کوچنیو
مناطقوکي او سیږ ي یا هغه خلک چې په بازارو کې ژوند کوي له هغي هر یو یې کوچنی (ماشوم ) په یوه خاصه
طریقه له هغه بالغ کسان چې د ټولني ضرورت بلل کیږي تر روزني لاندي نسي. د هري ټولني خلک یو له بله سره
زیات فرق کوي چې معمولاً دغه فرق ډېر په رفتار یا کړنلاره کې تر سترګو کیږي او کړنلاره عبارت له دین ، په
کړن لارکي قبول شوي قوانین ، او هغه علمي ظرفیت درلودل چې په پیریو کې په لاس راغلي وي او یا په عمومي
توګه فرهنګ د یوي جامعي ته ویل کیږي په یو ساده او ابتدایي تو لنه کې چې کوچنیان له خپلي کورنی سره یوځای
په زراعت او مالداری کې ونډه اخلي دوالدینو وظیفه داده چې هغه په ټولنیز ډول جوړکړي اما په هره اندازه چې
یوه ټولنه وسعت یا پراخوالی پیداکوي په هماغه اندازه دغه وظیفه ټولنیزو خلکو ته پریښودل کیږي

په ټولنیز ډول جوړول د خلکو یو ټولني ته د مختلفو نهادونو کا ر دی چې په ابتدائي ډول په یوه کورنۍ کې تر ښووني
لاندي راځي لکه دخبرو کولو طرز ،کالي اخوستل ، له نورسره مهرباني ،همکاري او احترام له دغه جملي څخه دي. په
دیني مجالسو کې دکوچني شرکت هغه ته د خو شحالی احساس وربښي او په دغه مراسموکي دده کېدون اساس ترینه
کړن لاره زده کولای شي

ښوونځی هم په ټولنیز ډول دخلکو په جوړولو کې مهم رول لري لومړنی دنده دښوونځي فکري زده کړه او داسي نورو
مهارتونو ښوونه چې د ټولني ضرورت ورته ویل کیږي مثلا: ټول خلک د عددونو حسابي سلسلي زده کړي ته
ضرورت لري او اهمیت یې په ژوند کې له انکاره لري خبرکېداشي.

د ښوونځي دوهمه وظيفه عبارت له کومک او دکار سپارل چې تر ډیره حده دغه دنو نهادونو کار دی ولي په تولنیزه توګه دا یو مهم رول کېداشي. مثلاً :لکه ځنګه چې پوهیږو کورنی او هم اطرافیان یې د همکاري او ټولنیزو اړیکو په بر خه کې نورو ته لاربښوونه ورکوي او ښوونځی همداغسې کارو ته لمن وهي. که چیرته دښوونځي صحیح اهداف او کړنلاره ولري. کولای شي دکورنی هغه بي فاید ي اعمال چې په کورنی کې زده کړې دي تر ډیره حده له لاسه ورکړي ښوونځی کولای شي چې کو چني ته داسې ښوونه ورکړي یاداسې څه ورته وښيي چې بغیر دنورو له ازاراو اذیت څخه ژوند وکړي.

له بلي خوا تر ډیره حده ممکنه ده چې په ښوونځي ک داسي پیښیي وشي چې دښمني رامینځ ته کړي چې دغه کار متقابل احترام له مینځه نه وړي.

## ټولنيز رفتارونه

ټولنیزرفتارونه کولای شو په دوه ډوله باندي تقسیم کړو

الف: مطلوب رفتار لکه له نور سره همکاري دوستي ، رهبري ،او داسي نور

ب: نا مطلوب رفتار لکه دښمني ، پرخاشګري، رقابت ، او داسي نور.....

۱-همدردي : - دهمدردي انګیزه لیدل او اوریدل دهغو خلکو چې ناراحتي احساس کړي چې په خاصه توګه دا ډیر په خپلو کې د ئړدیوالي له امله تر سره کېږي. که چیرته کوچنی دهمدردی احساس ښکاره کوي دی باید کافي عاطفي او عقلي وړتیا وي ولري. دنورو ناراحتي ته باید ځان ورسوي او خپله مناسبه همدردي ور سره ښکاره کړي نوی پیداشوی ماشوم کله چې دنورو ژړاووینې خپله هم په ژړاباندې شروع وکړي .دایو نوع همدردي دکوچني ماشوم کېداشي کنه پدي نظریاتو کې ډیر اختلافات موجود دي همدر دې هغه وخت په کوچني کې لیدل کېږي چې اصلیت د واقعي وپیژني دغه تجربه ډیر وخت په عقل او سن پوري تړلي موضوع ده. همدردي دانسان یو طبعي ضرورت ګڼل کېږي تر څو چې غواړي همدرد شریک ولري به غیر له دي نه شا ید د نورو نظر ته کومه خاصه تو جه ونلري اود دښمنانه عمل وکړي لکه مخکې چې ذکر شو د یو سړي جوړل په ټولنیزه توګه تر ډیره حد ه دیوي کورنی وظیفه کېداشي پدي توګه دکورنی وظیفه داهم کېداشي چې ځنګه یو کوچني ته دهمدردي وړتیا ورکړي یعني کوچني ماشوم له کورنی څخه همدردي زده کوي .

چي ځنګه دنو رو احتر ام وکړي او یا ځنګه د نو رو په خوشحالي او غم کې ځان ور ګډ کړي له کورنی څخه ورسته دښوونځي او ښوونکي دنده ده چې ځنګه متقابل احترام اوسالم روزنیز محیط په همدردي ولاړ زده کوونکو ته وروزده کړي.

۲- دوستي :- د یو کوچني ماشوم له رواني حالت او محبت څخه شمیرل کېږي ددوستي او محبت له طریقو څخه د ماشومانو ترمینځ اړیکې زیات قوت پیداکوي او دغه قوت تولني ته دکوچني په جو ړولو کې زیاته همکاري کوي. خو

معمولا دغه دوستي ډیر لږ وخت دوام کوي ولې دوخت په تیر یدا سره کولای شي خپلي ژوري مر حلي ته ځان ورسوي .

۳ -همکاري عبارت له هغه ګروپي فعالیت څخه دی چې یو کوچني کولای شي ددغه ګروپي فعالیت په واسطه سالمه تجربه په یوه ټولنه کې لاسته راوړي. کوچنی دیوه هدف یا موخي ته درسیدوپه خاطر چې غواړي ځان ورته ورسوي دهمکاري په واسطه کولای شي چې لاس رسی ور ته پیداکړي پدي شرط چې دغه په روزنیزه او صحیحه توګه انګیزه ولري. وخت ورکول دنورو احترام او حقوقو ته یا خوند اخستل د یو بل له خبرو څخه دا هغه څه دي چې دکوچني په همکاري کی ګټور تامیدای شي.

۴- رهبري : هغه متقابلي اړیکې ته ویل کېږي چې دیوې ټولني او سرې ترمینځ واقع کېږي پدي معنی چې رهبري فعالیت او کړن لاره په یوه ټولنه کې خاص اهداف غورځوي همداشان متقابل هم اثر غورځونکی شمیرل کېږي. میل یا ارزو په کوچني کې په درې کلني کی شروع کېږي او په شپږکلنی کې زور پیداکوي کوچنی د رهبري مقام ته د رسیدلو په خاطر ټولې لارې ازمویي لکه ،ددوهم کوچني لږي ساتل . یا تنګ نظر درلودل دهغه په کړن لاره یا فعالیت باندې ولې دغه رهبري ډیر لږوخت دوام کوي. مګر که چېرته کوچنی هوښیار او باهوش وي کولای شي ډیر وخت دنورو نظریات په خپلو فعالیتونو ځانته را جلب کړي او دوخت په تیر یداسره رهبري ته ځان ورسوي همداشان بشپړ معلومات او کافي تجربه هم کولای شي کوچني سره درهبري مقام ته د رسیدا لپاره کومک وکړي. دغه فعالیت ته د رسیدلو په خاطر کوچني ته باید زمینه برابره شي تر څو خپل حالت ځانته معلوم کړي او داسي زده کړه باید ورکړل شي چې مشابه یو له بله سره په فعالیت کې نه وي زده کونکې خپلي توانائي ته د رسیدلو لپاره کولای شي چې د ښوونځي پوره همکاري وکړي.

ب : نا مطلوب رفتار :

دښمني:- دښمني معمولا له هغه رفتارڅخه شمارل کېږي چې په ټولو کوچنیانو کې د لیدلو وړده اما په ډیره ټیټه سطح او لیږمحاله وخته پوري دوام کوي

دغه حالت معمولا له درې کلني څخه شروع تر څلور کلني په دوام پیداکوي اما دغه حالت دوخت په تیري داسره کم والی پیداکوي پدي برخه کې ټوله کورنی اود ښوونځي ښوونکې مؤظف دي تر څو د خپلې کړنلاري په واسطه دغه منفي کړنلاري له کوچنیانوڅخه لرې وساتي. که چیري په کوچني که دغه کړن لاره ولیدل شي باید کوښښ وشي چې دغه کړنلاره قوت پیدانکړي او یا کوچنیان دغي کړنلاري ته تسلیم نشي.

پرخاشه ګیري : یو ډول عکس العمل د ناکامي په برخه کې دی او هغه وخت په پرخاشګري باندي اخته کېږي چې د هغوئ ارزوګاني پوره نشي اوهغه څه چې دکوچني د پرخاشه ګري سبب ګرځي عبارت له لرې ساتل دکوچني له هغو اهدافو څخه چې دته ډیر بااهمیت وي کله چې د اتوانایي په ځان کې پیدانکړي چې د ملګرو توجه ځانته را جلب کړي ،له اطمینان څخه لرې وساتل شي ، دنور کوچنیانو سره کینه پیداکړي،لویان دهغوئ په فعالیت کې لاس وهنه وکړي یا هغوئ له ګروپي فعلیت څخه منعه کړي ، که چېرته په ټولنه کې په یو فعالیت بریالی نشي په

هغوئ محدودیت لګوي نو داهم

کولای شي چې کوچني ته دپرخاشګیري امید ورکړي.

که چېرې یو کوچنی پرخاشه ګرنه فعالیت ولري دغه نقطې کولای شي چې دغه فعالیت ته دپای ټکی کېږدي.

- دکوچني بدني صحت ته پاملرنه
- د تعصب او کېنې څخه مخنیوی
- لاربنوونه او تشویق
- کوچني ته ونډه ورکول په ټولنه کې
- دکوچني هرې ارزو او احتیاج ته ځان رسول
- ځان ساتنه یې له وهلو او بې ځای خبرو څخه
- ځان ساتنه له ناکامي څخه او تشویق کامیابي ته

**رقابت**

۲ که چېرې په صحیح ډول تربیه شو د رقابت څخه به مطلوبي لاسته راوړني ولرو.ارواپوهان پدې عقید ده چې: رقابت په دری کلني که لیدل کېږي او په ۵ – ۸ کلني که زیات قوت پیداکوي چې په اول کې یوازې په ښوونځی او دوالدینو رول دکوچنیانو په پروربنت او رفتار پوري : که چې کوچنی ښوونځي ته په داخلیدو سره له نویو تجربو سره مخ کېږي .له محیطي عواملو سره لکه ښوونکي. ټولګي وال، کتاب او نورو سره پېژندګلوي پیداکوي بیا هم کورنی خوصوصاً والدین دکوچني دشخصیت دپوره کولو لپاره مهم رول لوبه وي بغیر له دې څخه چې کوچني څه ډول والدین لري ، دهغوئ اړیکې په څه ډول دي مستقیاً دکوچني دشخصیت په پروربنت اغیزه لري والدین دخپلو زامنو په روزنه کې د مختلفو او خاصو میتو دونو څخه پیروي کوي مګر هغه په عمومي تو که کولای شو په لاندي بخشو کې شامل کړو.

الف: دوستانه او ازادي غوښتونکي والدین: ددغه ډول والدینو درلو دونکي کوچېنان معمولاًفعال معشارتي ټولنیز ، ازاد ، او د هر ډول ضررناک فعالیت څخه د ځان او نور په مقابل کې محرومه وي

ب سختګیره او دوستانه والدین : هغه کوچنیان چې د دغسې والدینو درلودونکي وي د الف ډلې له والدینو سره معمولا فرق کوي چې دغه ډول کوچنیان په کمه اندازه دوستانه کم فکر کوونکي په زیاته توګه ازاد او خود سرانه عمل دځان او نور په مقابل کې نبي.

ج نامهربانه او سختګیره والدین :دغه ډول والدین په حقیقت کې ډیر نا غوښتونکي اعمال دزامنو په مقابل کې تر سره کوي بغیر له دې څخه چې هغوئ ته اجازه ورکړي تر څو خپل احساسات وړاندي کړي دغه سلوک د دې سبب کېږي چې کوچېنان غیري منطقي اعمال تر سره کړي چې له هره اړخه څخه کوچني ته مؤضر تمامیدای شي او د

کوچني په روزنه کې له مجازاتو څخه کار اخلي چې تر ډېره حده دغه کوچني په خپل ژوند کې بې جرأته اوپه ټولنه کې هيڅ ونډې اخستلو ته زړه نه ښه کوي او د ژوند له هرې څپې څخه شکايت کوي او دغه شکايت ته نيروتيک (يا رواني اختلال )ويل کېږي.

د- ازادي غوښتونکي او نامهربانه والدين :- بر خلاف د اولني ميتود هغه والدين چې دخپلو کوچينانو په مقابل کې دوستي نه ښکار کوي او هغوئ يو څه انداز ازاد پرېښبې وي کوچنيان يې زياتره جديوي او کم قابليت لري چې خپل رفتار او کردار کنترول کړي. د مطالعاتو په جر يان کې زياتره نوي ځوانان او ځوانان دجرم سبب شوي دي په دغسي کړنلاري اخته دي.

خور اوورور يو بل عامل کېداشي چې د يو کوچني په پرورښت باندي زيات تاثيرات لري

کوچني ته دا هم مهمه کېداشي چې په کورنۍ کې په کوم موقف کې دی او له خوره بايد احترام ،همکاري ،وفاداري ،ښکنګه زده کړي او همداشان کوچنی د نا مطلوب اړيکې درلودلو په خاطر له خپل ورور او خور سره په تعارض کې اچوي او له خپل ورور او خور سره ډير سخت په رقابت کې کېږي.

يو بل اساسي عامل چې دکوچني په شخصيت ،پرورښت او کړن لار کې رول لوبوي هغه وړتيا او پرورښت کېداشي چې تر ډير حده دغه په ژوند کې نورمال حالت نلري. خوکوچنيان په دغه سن اوسال کې معمولا له دغه سي ستونزو سره مخامخ کېږي تشويق کاميابي ناکامي دا هغه څه دي چې په ژوند کې معمولا يو انسان ورسره لاس او ګيروان کېداشي.

## دوهم فصل

### درفتار عوامل

دانګیرې راوني مفهوم یا اهمیت : انګیزه یو عامل ، صفت ، یا خاصیت ده چې یو شخص کار ته و هڅوي او دهغې کړنلارې موخې ورته په ګوته کړې د انګیزې (اورګانیزم) په سترګو نه لیدل کیږې ولې تاثیرات یې په سلوک او رفتا ر کې ګولای شي سړي ووینی. انګیزه او انګیزش له دو محرکو څخه اخستل شوې اول دحرکت کونکې خارجي برخه یا ( Incetive) لکه موخه، دوهم دحرکت کونکې داخلي برخه یا (Drive ) لکه لوږه تنده مریضې او داسې نور یا په بل عبارت انګیزه دوه جزه لرې او ل یوداخلي عامل دې چې انسان یا حیوان باندې فشارراولې او هغه کار کولو ته هڅوي اوخپلې موخې ورته په ګوته کوي مثلا :لوږه تنده مریضې دوهم باندنې عامل چې هغه خپله د انګیزې موخه ده «الیزبت » د انګیزې په باره کې داسې وایې انګیزه د مقناطسي ساحې په ډول سره ده چې په سترګو نه لیدل کیږې مګر د سلوک یارفتار د واضح کولو او توصیف لپاره په کار وړل کیږې نو پدې اساس باید د انګیزې دارمنځ ته کیدو شرایط په نظر کې ونیول شي او هغه لاسته راغلي نتایج درفتار په صورت کې مطالعه کړې .په خلاصه توګه انګیزه باید دري جهت درلودنکې وي ۱- دانګیزې درامنځ ته کېدو شرایط ۲- هغه نتایج چې دانګیز ي څخه په لاس راځي ۳- دانګیزې فزیلوژیکې اساس او بنیاد باید څنګه وي او( سرویس) یو ارواپوه بیا د«فروید» دعقید څخه په استفادې داسې وایي چې انګیزه د دریو ممیو اصولودرلودونکې ده .اول دانګیزې اساس او منبع : هغه عامل دي چې وګړو ته حرکت وربښي ، دوهم د انګیز لورى: هغه فعالیتونه چې د انګیزې په واسطه سرته رسیږي ، دریم د انګیزې هدف یا موخه هغه حاصل یا نتایج د انګیزې دي .د «فروید» په عقید ه انګیزه هغه جسماني منبع ده چې د فزیلوژیکې په واسطه پیداکیږې یا محیطي عامل هم په ټولنه کې کېداشي داحتیاج اوانګیزې فرق داکېداشي چې انګیزه حرکت اوفعالیت کوي او هغه موخې اماده کوي چې په کړنلاره کې راځي نو له دې کبله نبه به داوي چې انګیزه او احتیاج نورهم تر څیړنې لاندې ونیسو

### د انګیزي طبقه بندي یا ګروپ بندي

دمسئایلواو پدیدو طبقه بندي چې د مصنف په غوښتنواو محو پورې اړه لري د انګیزې طبقه بندي هم پدې کې راتلای شي انګیزې په هغه اندازه یو له بله سره اړیکې لري چې ده هغوئ جلاکول او تقریرعملاً ممکنه نه دي ډیروخت د داسې انګیزوښکاره ول لکه کلتوري او داسې نوري په ظاهره توګه ممکن دي او یا امکان لري چې په مشابه یا ورته لارو باندې مختلفې انګیزې راپه ګوته کړې په عمومې توګه کومه طریقه او تکلاره چې یو سړې یې په معلوم وخت کې سرته رسوي حاصله نتیجه دیوې انګیزې نشي کېداي بلکې ده یوې تکلارې لپارهم نه ده .مصنفینوانګیزې ته مختلیفې طبقې ورکړې او بحث په دغه برخه کې په دوډولو باندې ویشل کیږې چې عبارت له رواني اوفزیلوژیکې څخه دي فزیلوژیکې انګیزې لکه لوږه، تنده، جنسي انګیزې او داسې نورو څخه بحث کوي او رواني انګیزه چې دلته باید تر بحث لاندې نیولای شو ادامه ورکو.

رواني انګيزه : مهم فرق د رواني انګيزي  چې بعضي هغوئ ته بشري انګيز هم وايي له فزيلوژيکې سر پدې کې ده چې فزيلوژيکي انګيزه په کافي اندازه مرفوع کېداشي او په عادي حالت کې په مقايسه د رواني انګيزي سره په تعين او معلوموالي ديو وګړي کې کوم خاص رول نلري ولې بل عکس رواني انګيزه پدې خاطر په سلوک او رفتار کې اهميت لري چې دغه انګيز ه هيڅ کله هم په شخصي غوښتنه  ديوه وګړي لپاره نشي راتلای امکان لري چې يو سړی غذاپه هغه اندازه ميلان کړي چې زيات له يوي کولي بله کوله وانخلي .هيڅکله اندازه ديوه اجتماعي موقف د ساتني اومحبت لپاره چې يو سړی لري نه برابرېږي او ارزوګاني يي نه ترسره کيږي. دوهم داچې تاېثرات دزد ه کړي په فزيلوژيکې انګيزه کې تر رواني انګيزيې  ډيري کمې دي فزيلوژيکې انګيز ه په خلکو او مختلفوډلو کې په يو قسم ليدل کيږي اما په رواني انګيزه کې  اکتسابي  ده او په محيطي او فرهنګي ټولنو کې تر څيړني لاندي راغلي دي او په اصل کې تابع د  زده کړي ده.  نو له دې کبله ښکاره کول دي رواني انګيزيو په ټولنه کې په مختلفو برخو کې راځي بعضي قسمتونه يي په لاندي توګه تر څيړني لاندي نيسو.

١ محبت ته ضرورتونه : محبت د انسان له رواني ارزوګانو څخه دی چې په عمومي تو ګه د ژوندپه هره دوره کې وګړي ورته ضرورت لري اد ضرورت يا احتياج دمور اوپلار خور او ورور خپلوان او دوستانو (ميرِه او ښځه )دلور او زوی په واسطه پوري کيږي چې نيستي يي په وګړوکې د تشويش اوپريشاني سبب کيدای شی. ځوانان اوهلکان ټول په ژوند کې محبت ته ضرورت لري هغه څه چې بايدورته پوره ځيرنه وشي پروربښت او ورتيا په وګړو کې ده  وګړي په خپل ژوند کې دملګري انتخاب اودخپلې کورنی جوړول .او له خلکو سره   همکاري، يا د  هغو خندونو په مقابل کې که څوک دمور ، پلار او نورو ملګرو له محبت څخه محروم شي نودی دنويو دوستان د انتخاب ولو په لټه کې کيږي ځکه چې کوچنيان دمور او پلار له محبته محروم کيد ل يا داخليدل هغه ټولې يا ډلې ته چې هغه خالي له عشقه اومحبت وي د منلو ورنه ده  د دي اصل له مخې ښوونکې بايد هر کوچنې وضعه تر څيړنې لاندي ونيسي او هغه اړيکې دلويانوله هغوئ سره په کور کې درک کړل شي هغه کوچني چې دمور او پلار له محبت څخه محروم وي په ښوونځي کې نشي کولای دنور عادي ماشومان غوندي رفتار وکړي  د مور او پلارمرګ يادهغوئ جلاوالي يو د بل څخه بعضي کوچنيان هلک يا نجلی يا کرنلاره دمور او پلارهغوئ ته  يو له هغه علت څخه دي  چې  کوچنيانو کې دمحبت دښکاره کېدو مانع ګرځي هغه کوچنيان چې په دغه شرايطو کې ژوند کوي زياتره په پريشاني او تشويش  باندي اخته وي نظر لويانو او نور کوچنيانوته بدبينه وي په تکليف او پريشاني له نورو کوچنيانو او همزولو سره وخت تيروي نو له دې کبله ښوونکې بايد د کوچني له هر وضعيت څخه ځان خبر کړي

او هغه باید تر تربیه او پاملرنې لاندې راولې لکه داسې زیات پیښیږي چې کوچني په کور کې له اندازې زیات دمور او پلار تر محبت لاندې راشي اود د ه همیشه دغه ارزو وي چې نو ر هم په دغه شکل ورسره وو سیږي او همیشه يې په غیږه کې ونیسي اوتربیه ورکړي او همیشه دغه ارزو په ښونځي کې ساتي مګر که چېرته په ښونځي کې دښونکي له محبت سر مخامخ نه شي په تشویش اوناارامي باندې اخته کېږي نو له دې کبله ښونکي باید همیشه هغه سي رفتار وکړي چې کوچني لکه موراو پلارداسې حس کړي .

د کور محیط له ښونځي سر ه کاملاً فرق لري ښونکی په ښونځي کې له زیاتو کوچنایونسره سرو کار لري. ښونکی باید ډیره څیرنه ولري چې له کوچنیانو سره بدیني او کینه ونه ساتي او له بي ځایه ترټني څخه ځان وساتي داسې رفتار وکړي چې کوچنیان هغه د خپل مور اوپلار په حیث یامنزل وګڼي . هغه کوچني چې ښونځي ته داخل شي نه تهامحبت ته ضرورت لري بلکې نورکوچنیان هم دده محبت ته ضرورت لري ددې اصل له مخې کوچنیان باید یو له بل سر نږدې کړل شي او دکېدون له لار ي په اجتماعي کاروکې یو دبل سره همکاري ا و کوښښ وکړي او دهغوئ په منځ کې باید د دوستۍ اود محبت زمینه برابره شي.

۲ په یوې ډلې پورې تړاو اویا تړلې ضرورت یا احتیاج : انسان د کامیابي په مرحله کې یوه ګروپ یاډلې ته ضرورت لري چې په هغه پورې اړه لري او ل ځل چې یو وکړې تعلق پیداکوي هغه له خپلي کورنی سر وي چې معمولا یو کوچنی شپږ کاله دکورنی په غیږ کې له مور اوپلاراو نور دکورنی غړیو سره تیروي ا میدېې همیشه داوي چې پدې ډله پورې پاته شي. کوچنی ښونځي ته په داخلیدوسره له یو ي بلې ډلې سر میل او علاقه پیداکوي او کرار کرار دهغوئ سره خپلې عمیقي مرحلې ته ځان رسوي او دې همزولوډله پیداکوي او دغه دهمزولوډله د ده په ژوند کې ډیر اهمیت لري له یوې ډلې سره تړاو او اړیکې نه تنها دمادي ضرورتونو لپاره وي بلکې سرې خپل ځان دیوې ډلې پواسطه پیژني دیوې ډلې دې قضاوت له لارې ښه خویونه او لایقتونه پیداکوي سربیر ه پردې چې یوه ډله دسرې دمحکم کېدو سبب ګرځي دیوې ډلې له لارې دسرې قبلیدا .دهغه تولنیز موقعیت. دهغه په نظر نور په ګوته کوي. سرې درک کوي چې دیوې ډلې تایید او جذبې ته ضرورت لري ځکه دیو کار دسرته رسولو لپار ضروري دی چې زیات ټولنیز مهارتون زده کړي او نور سر د کارکولوطریقه دمسؤلیت. قبلیدا. په نفس باور.. دنورو محصیلنو مراعات، د همزولودحقوقو احترام، دفکر او مختلفو عقیدو زغمل، لکه هغه چې یو سرې په ډله کې زده کوي او دهغه په سرته رسولو کې دی نوی نظر جلب کوي او خپل ټولنیز موقیعت برابروي.

ټولنیزه پیژندنه :خلګ که څه هم په کورنی یا همزولو سره اویا په خپل محیط کې په زړه پورې کارلري دهغه شخصیت داحترام وړ او ساتلی وي. ټولنیزه پیژندنه خلکو ته ډاډورکوي .ټولنه هغه ځای ده چې سرې کولای شي مبارزه وکړي. خپله عقیده فکر او کمال هلته ظاهر کړي .هغه خلک چې دټولنې له خواشړل کېږي یاتر هغه ځای چې

داحترام وړپه ټولنه کې ونکرځيري زياتره وخت ديوه سړي دتزل زول د اخته کېدو سبب کېږي او خپل ژوند په احتياج او پريشاني کې سر ته رسوي د ټولني دمقدراتو ساتنه او دهغي دغوښتنوډپيروي لپاره تعين دټولنيز موقف دسړي په ټولنه کې ضروري ده . هغه کوچنيان چې د شړل شوو ډلو له خو ا د ښوونځي څخه منع کېږي يادکورنۍ دي اقتصادي او اجتماعي وضعي له وجي نشي کولاى د نور کوچنيان نظر ځانته جلب کړي هميشه په نارامي کې ژوند کوي ښوونکى با يد ناظير او ساتونکى د ټولو کوچنيان وي چې دټولني د پيژندني او يا ديوي ډلي دقبليدني په حصه کې له دوئ سره کومک وکړي ښونکې بايد ځان پوه کړي چې ولي کوچنيان دي خپلو همسالانو له ډلګۍ څخه جلاشي او دا علت هم بايد پيدا شي چې ولي کوچېنان له نورو سره خپله علاقه مندي نه ښکاره کوي او يو ځاى نه سره اوسيږي. بعضي کوچنيان د نورو له عدم شناخت څخه له بدني مهارت سره خپله ازموينه لري ساتي او د نور له کېدون څخه يي منع کوي او بعضي دي اقتصادي مشکلات له وجي له نورو څخه ځان لاري ساتي . ښوونکې ټول بايد ترڅيړني لاندي ونسي او ټول مشکلات يي مطالعه کړي او په تر تيب شايد هغه خپلي ډلګي ته اماده کړي او له ټولني سر يي اشنا کړي او اجتماعي موقف يي پورته کړي

د ځان ښکاره وني ارزو : د انسان له رواني احتيا جاتو څخه يو هم ځان ښکاره ونه ده . منظور له ځان ښکاره وني څخه هغه افکار او عقايد دي چې يو سړى نو روته ور ښکاره کړي . او خپل مقصد او نظريي نورته وروښي هر وکړي د يوي ټولني هيله لري چې له مختلفو مقصدو څخه ګټه واخلي اودي هغوئ په واسط ځان نورته وروښي .هر څوک د ځاني تجريبو او فهم په اساس ټولي پيښي او کارونه په يو خاصه طريقه باندي دي تر ارزوني لاندي نسي او درک کوي . او خپله علاقه يي هم داوي چې خپلي ټولي نظري دهغوئ به حصه کې شريکې کړي . وګړي په مختلف ريشتو کې په کار باندي مشغوله دي او په دغه کار کې له خلکو سره ګزاره کول دي ،د شخصي مشکلاتو حل کول ، د کوچنيانو تربيه او روزنه ، په اداره کې عوايد او مصارف ، دغه ټولو ته يوه نوي او تازه لاره پيدا کول،او ارزو يي داوي چې دغه نوي او تازه لاره نور ته وروښي .څرنګه چې وويل شو د وګړو علاقه برابريدل له جامعي ياټولني سره دي يعني خپل ځان دي ډلي په اختيار کې ورکړي او دي ځان لپاره يو فرصت پيداکړي تر څود ډلي له خوا څخه د احترام يا (self-esteem) )په ځان کې د کفايت اطمينان(self-confidence)ظاهره ول يي د ځان په خاطر (self-fulfillment)سرته رسيږي. سړي د ځان داحترام په خاطره خپلي ټولي واکي د نورو په اختيار کې ورکوي او په خپل نفس پوره باور او اعتماد لري تر څو خپل فکر او ذوق باندي پوره کاره وکړي او نوروته يي وښي او په اختيار کې ورکړي . وکړي د خپل لياقت د ښودني لپاره ارزو لري چې هر مسئله په خپله حل کړي تر څو نورته خپل لياقت وروښي هغه کسان چې په تنهايي سره دژوند ټول کارونه سره ته رسوي او داسي علاقه لري چې ده ملګري په برخه کې په تنهاي سره تصميم ونسي په عين حال کې غواړي چې

وبني لایقه او په کاره پوه سړی ده .او دهغه شخصیت د احترام وړه دی .نو له دې کبله د فرصت څخه په استفادې سره ځان ښکارونه نوي او تازه عقاید او افکار زیږوي او د بیان قوه ډیر په چټکۍ سره عمل کوي . د کوچنیان مور ، پلاراو ښوونکې پدې برخه کې پوره مسئولیت لري چې د کوچنیانو تجربو ته پراخوالي ورکړي . د هغه نظر همیشه د ځان لپاره ،سالم ،او دهغوئ همزولي همیشه د ټولني او له طبعي حوادثو سره په تغیر کې دي . چې د تر قي په مرحله کې علاقه لري چې پوره پوه شي او هیله لري چې همیشه داحترام وړ د ژوند په مختلفو ارسو کې وکړئ .دی غواړي چې خپلې ټولي نظریې د اخلاقي مسائلو .دیني ، او هنري برخووکې کړمي وساتي او نورو ته وښي او دغه لاسته راوړنه په کور او ټولګې د کوچنیانو لپاره ښه سرته رسیدای شي . که چیري کوچني په دغه دوو برخوکې کافي فرصت په لاس راوړي او وکولای شي خپل ټلو افکار او عقاید په ازدانه توګه بیان کړي د ابتکار قوه یې ډیر زیات قوت پیدا کوي . ښوونکې باید د ځان ښکاره وني زمینه زده کوونکې ته برابره کړي او باید پوره کوښښ ور سره وکړي ترڅوهغه په پوره توګه هغه څه چې غواړي ویې وایې او په خاصه علاقه باندي دهغوئ افکار او عقایدو ته غوږ ونسي . ښوونکې کولای شي چې دهغه فکر ته وده ورکړي او له تعصب څخه یې لري وساتي

امنیت ته احتیاج او د نظم هدف : د انسان له رواني احتیاجاتو څخه یو هم امنیت دي. امنیت دژوند په مختلیفو برخو کې یو حیاتي امر کېدای شي امینت په اقتصادي. سیاسي . او ټولنیزو برخو کې موثر دی او د هر وکړي په رواني حالت باندي هم تاثیر لري . کله چې یو کوچني په دکتاتوره کورنی که لوی شوی وي او همیشه یې بې له څه ویلو یو جبري امر لپاره مؤظف وي په داسي کورنی کې کوچنیان همیشه د ډار په حالت کې ژوند تیروي یا په پریشاني او تشویش باندي اخته وي هغه کورنی چې داقتصاد له لحاظ په غیرطبعي وضعیت کې ژوند تیروي . او د خپلو اولادونو لپاره کافي غذا او نور د ژوند کافي احتیاجات نلري له دې حالت څخه یې هم کوچنیان ډیر زیات خواشني کېږي او د نه امینت احساس کوي . هغه کوچنیان چې له موراو پلاره څخه یو هم له لاسه ورکړی وي یا د مور او پلار جلاوالی، یا د هغه زیات محبت درلودل چې له خوراو ورور سره یې درلود له لاس ورکړي هم په امنیت کې کډوډي راولي او همیشه د نارامي احساس کوي . همدارنګه د خلکو یا کوچنیان حالت د اخلاقي خصو صیاتو په وجه یا د ټولني د امورو سره نه پیژند نه نشي کولای چې دخپل ځان حالت د خلکو په منځ کې تعین کړي او یا دا چې د یوي ډلي له خوا شړل کېږي همیشه د نارامي په خاطر سرټکوي ښوونکی باید ټولوکوچنیانو ته پوره ځیرنه وکړي او د هغوئ حالت دهغوئ د همزلو اوکورنی په مابین کې تر ځیرني لاندي ونسي او داسي تصمیم ونسي تر څو د دوي په زړه پوري ارامي برابره شي دښوونځي صنفي ماحول په محلي ډول برابر شي چې هلکان د پوره امنیت احساس وکړي د وکړو په رواني صحت کې یو معاصر عامل د هغوئ په ژوند کې د اهدافو تعین ول دي هر څوک په خپل ژوند کښی له معلومو اهدافو یا هدف څخه پیروي کوي. هدف د کار لپاره ،او د وکړو اړیکې

په ټولنه کې معلومه وي . هغه څوک چې معلوم هدف لري مسلسل خپل فعليتونه هغوئ ته متوجه کوي اوپه زياته اندازه کوشش کوي چې هدف ته نيږدي شي او له دي وجي ګوري چې د ده کوشش او تلاش بې نتجي نه دي احساس د خوشحالي کوي او له خپله ژونده خوشحال او رازي کيږي. د انسان هد ف له مختلفو فعاليتو څخه د هغو په کار ګمارل دي حرکت د انسان په ژوند کې دهغه د ژوند هدف او مربوطه فعاليتونه په د پوري اهميت لرونکې جوړه وي . هغه څوک چې په خپل ژوند کې معلوم هدف نلري د ده تلاش او کوشش نشي کولای چې روښان اينده ولري له دي جهت څخه ده چې په تزلزول او بد نامي کې ژوند تيروي د داسي سړي لپاره ژوند بې اهميت او بې قدره وي د غه سړي هميشه خپل ژوند په نا اميدي او مايوسی کې تيروي

دهدف مسئله په فعال روزنه او ښوونځي کې مهم اهميت لري او زده کوونکي بايد او پوهيږي چې ولي مکتب ته ځي او ده څه لپاره د ده اړيکې له ښوونکې او نورو زده کوونکو سره ځانګړی شکل لري او بايد پو ه شو چې يوه درسي موضوع ولي ياد وو او په څه ډول باندي بايد خپلې تعينې شوي وظيفي سرته ورسوي هر کله چې يو روزه نيز هدف معلوم او مشخص شي بر سيره پر دي چې د ښوونکي او زده کوونکي د کار طرف روښانه کيږي او دهغوئ فعاليتونه برابريږي . ښوونکي او زده کوونکې بايد د معلوم پرګرام دلايل وپيژني او په ښه توګه وکولای شي چې خپل هدف ځانته معلوم کړي . هغه څوکه چې په ژوند کې مشخص هدف نه لري کوشش او تلاش باندي نه پوهيږي او ژوند ورته بې خونده وي

دتحصيل تربيتي اهداف بايد د زده کوونکو لپاره اهميت لرونکې وي او هغوئ بايد درس او علمي مطالبو ته شويق کړي

په هغه ټولګي کې چې زده کوونکې خپل علاقه له درس سره نه ښکاره کوي د خپل ښوونکې او ټولګي والو مزاهم کيږي غلبياً هغوئ ته د فعليت هدف روښانه نه وي ځيرک ښوونکې له شروع د پرګرام څخه خپل کار د زده کوونکو لپاره تشريح کوي .تربيتي هدفونه ، درسی مواد ،او پدې پوري تړلې وظيفي مشخص کوي او کوشش کوي چې کوچنيان د مشترکو هدفو په تعين او انتخاب کې او د تحصيل فعاليتو د سره ته ريسدلو دلايل دوی ته روښانه کړي نظم او تر بيي ته ضرورت يوه حصه د رواني بنيادي احتياجاتو څخه حسابيږي خلک نه يوازي ارزو لري چې په خپل ژوند کې د ځان د کوشش او تلاش هدف معلوم کړي بلکې غواړي چې د دوي کوشش او تلاش د يو خاص نظم او ترتيب له مخي سرته ورسيږي نظم که د ژوند د امورو وي ياد تربيتي امورو وي د ښوونکي له پرګرام څخه لري نده. نظم او ترتيب بايد د هلکانو د خواهيشاتو او ترقي سره برابروي د هغوئ مصلحتونه او بني ګټني بايد پوره کړي د کار ترتيب بايد زده کوونکې لپاره معلوم وي او هغه دليل بايد ښه درک کړي په دغه صورت کې نظم سبب د له بينه وړلو د دوي د شويش کيږي او د رواني صحت په بشپړولو کې زيات موثر وي يا ډير تاثير لري

## دريم فصل

### زده کړه

ښوونه او روزنه ديو انسان  ترټولو ستونزمنه او وخت نيوونکی کار دی . نتيجه او لاسته راوړني د وخت په تيرېدا سره لاس ته  راځي .

طبعی (وضاع ) آداب او ټولنیز رواجونه د خلکو چې یو شخص له هغو سرو کار لری او د انسان شخصی خصوصیات د دي احتیاجاتو په پوره کولو او نه پوره کولو کی تاثیر لری . بعضی وخت دغه عوامل دیوه شخص د اساسي احتیاجاتو دبشپړیدومخنوی کوی په بعضی وختونو کی انسان د تضاد او کشمکش لور ته رهنمايي کوي او همدغه تضاد د انسان د خپلو اساسي احتیا جاتو په پوره کولو کې پاتی راولي چې دانسان د اضطراب سبب ګرځي دی اشخاصو حا لات له مخنوي او داخلی تضاد سره مختلیف دي او یا رفتار چې د موانعو او تضادي برخو د په نتیجه کې يي انسان ښکاره کوی په پوره ډول له یو بل سره فرق لري هغه څه چې مسلم دي هغه دادي چې انسان په هره ټولنه کې لیږ او ډیرد خپلو اساسي احتیاجاتو او ضرورتونو په پوره کولو کې د ستونزو سره مخامخ کیږی ځینی کسان بی له دی چې امکانات په نظرکی ونسی ده موانعوپه ارزیابی کولوکې په بي نتجي کوششونو او په هغو لاس پوری کوی ځیني هوښیاران بیا د موانعو (ستونزو ) په وړاندي استقامت کوی . تر څو د خپلو اساسي ضرورتونو د پوره کولو لپاره سمه لارپیداکړی مګر ځیني ډیرژر خپل عقلي قوت اوقدرت له لاسه ورکړي دخپلو داحساساتو او عواطفو د تاثیر له امله خاص عکس العملو نه له ځانه ښکاره کوي . دجسمی احتیاجات او دهغو پوره کول خاص حالت لری مثلاً: سړی چې وږی شي دوډی ته ضرورت لری .انسان چې وږی شي خپل معادل له لاس ورکوی او لوږه انسان تر فشار لاندی راولي . که چیرته شخص وکولی شي چې ځانته خواړه تیاره کړی او وئي خوري د ده ناراحتی له مینځه وړی او یي له هغه د ده دغه خراب یا غیرمعتادل حالت ادامه پیداکوي اوبالاخر ادا حالت دده د مرګ سبب کیږی د یو داسی کار انتخاب کول د خوړو یو داسی ځایه چې وکولي شي د غه حا جت پوره کړی . امکان نه لر ی دغه حالت د روانی احتیاجاتو په برخه کښی پدي ډول نه ده که یو څوک د خپلو همزولو څخه نفرت کوی او ددوي د امله هغه موقعیت په ټولنه کښی کښته راځی کولای شي له بل لوری د ټولني توجه ځان ته راواړوی او له دی لاري د خپل اجتماعی موقعیت د ساتلو لپاره ګام پورته کوي مثلاً: یو شخص چې دهغه دبیان ضعف مانع ده چې هغه د ټولنی له طرفه د لاښویه توګه قبول شي امکان

لر ی چې دجسمي مهارتو او په ورزش کې د قهرماني په وجه دټولنې نظر خپل ځانته را وګرځوی او دی ورزشي تربیه د ورکولو له لری دیو شماري خلکو رهبری په غاړه واخلي یو ځوک کولای شي په بیلا بیلو ډولونو د احتیاجاتو د پوره کولو لپاره کاروکړی بعضې وخت په غیر مستقیمه توګه د دي ډول د احتیاجاتو د پوره کولو تا بیا نسی ځینی وخت په ظاهري ډول هغه هیروي او ځینی وخت یو بل کار دهغو احتیاجاتو پر ځای کوی او په هر حال کی هغه کوی چی لاس وتلی وي تعادل په خپل حال وساتی خپل ناراحتي له مینځ یوسی او یا یي کمه کړی د اساسي احتیاجاتو پورکول دخلکو د سلوک سرچینه کله چې یو ځوک د څه خند اویا تضاد له امله ویشي کړاي چې خپل اساسي ضرورتونه پوره کړي نو دده دغم او خپګان سبب کیږی دفاعی سلوک د خنډونو او تضاد د له مینځ وړلو په خلاصه ډول ممانعت د غم او خپګان دي . «فروئید» د دفاعی سلوک سرچینه د کوچنی د ولادت له تمایلو څخه اخلی د ارزضا تمایل مانع کیږی او دهغه دبنمنی ځانته متوجه کوی او دغه دبنمنی په ماشومانو کي غیر عادی دودي لاحل کیږی.

«ادلر»د دفاعي سلوک سرچنیه په ماشومان کي ځان ښودنه یا ځان لوي او داده په نظر ماشومان د کوچنیوالي او خواریې دی له امله چې دهغو د عمرسره لازم دی هر وخت نارامه وي اوهڅه کوی چې خپل برتری یا لوړوالی ښکاره کړی ددي ارزو په ښکاره کولوکښی له ماتي سره مخامخ کیږي او نه ستي کومی چې له نورو سره ژوند وکړی

(ادلر) په دی باور دی چې د ماتي او ناکامي په شخص کي د غیر عادی سلوک د رامینځ ته کیدو سبب کرځي د دي مکتب طرفداران درواني احتیاجاتو تحلیل په امنیت او داحتیاجاتو په نه پوره کیدو کي معاصر عامل دفاعي سلوک بولي مخکی له دي چې دفاعی سلوک په تشریح کولو پیل وکړو باید چې د ماتي مانع تضاد او داظطراب په باره کښی څه و واي

**مانع «ماتي» Frustration**: انګلیسی کلمه frustration چې په تربیتي اروپوهنه کښی په دوْ معنی ؤ استعمالیږی زیاتر وخت د ما نع مفهوم او معنا ورکوي امکان لري چې شخص یا شي وي یعني شخص یا اشخاص دیو فرد اساسي احتیا جاتو مانع کرځی معمولاً انسان له خپلو همنوع څخه کومک او د همکاري هیله لري کله چې فرد یا افراد ووینې دد ه د کارونو مانع دی نو ډیر نارامي کیږی ځیني وخت طبعي او ضاع اواحوال د شخص د احتیاجاتو د پوره کولو مانع کیږی . د دي ډول موانعو په مقابل کښي هم شخص یا فرد ناارامه کیږي. مګر د ده ناارامي له هغه وخت څخه کمه وي چې بل چا دده د کار مخه نیولي وي په معلومو وختونوکې

د(GREESTRATOIN)د شخص دحالت یا عکس العمل په معنی استعمالیږي او دغه حالت یا عکس االعمل دعاطفي شکل یا جنبه سره مل ده. موږ د غه مفهوم په پښتو ژبه کې د«ماتي» په معنی استعمالؤ.ماتي په ټولو خلکو کې په یو شان پریشاني (اضطراب )نه رامنځ ته کوي . ځني د ماتي سره د مخامخکیدوپه وخت کي مقاومت کوي او کولی شي چې د ماتي حالت تحمل کړي معمولاً هغه کسان چې په خپل نفس زیات اعتبار لري د ماتي په وخت کي نه پریشانه کیږي د خپلو موانعو او احتیاجاتو د منځ وړلو لپاره له بلي لاري هڅي پیل کوي .مګر هغه ځوک چې په خپل نفس اعتبار نه لري هر وخت د ماتي او موانعو سره دمخامخ کیدوڅخه و بره لري

او سمدستی له ځان څخه د دفاع په وخت کې له ماتې سره مخ کېږي او دخنډونو سره دمخامخ کیدو په وخت کې خپه او پریشانه کیږی . ځني وخت خلکو د خنډ«مانع» اهمیت ارزیابي کوي او خپل امکانات په نظر کې نیسي او بې له دې چې د پریشانی سره مخ شي په خپله ماتې اعتارف کوي .ځني د خنډ(ستونزې) یا مانع په اړوند غوصه کېږي او یا د کمزوري او خواري احساس کوي . خپل ځان خوار او غریب ګڼي چې همدغه احساس هغه نا ارامه کوي .

**تضاد( conflection)** کله چې یو شخص د یوې یا څو انګیزو په مقابل کې ناڅاپه واقع کیږي یعنی بې د کومې امادګي څخه دیو کار د کولو سره مخ کېږي دده د تضاد سبب ګرځي .له یوې خوا هیله لري چې یو کار وکړی . له بلې خوا خپل عقل او جدان دې دديې کار د کولو څخه منع کوي. مثلأیو څوک غواړي چي خلکو ته ازار ورکړي او په هغوی ملنډې ووهي مګر په عین وخت کې داډول کارونه په ټولنه کې د خپل موقعیت دټیټوالي سبب بولي .تضاد ځیني وخت په خلکو کې د اخلاقي او شخصي تما لاتو له امله منځ ته راځی .

ځیني وخت د شخص تما یلات او امکانات هغه له تضاد سر مخ کوي ځیني هیله لري چې په سفر لاړشي او له خپلو دوستانو څخه لري شي مګر مالي امکانات دده دغي هیلي مانع ګرځي . ځینی وخت د یو چا ارزوګاني دده د استعداد سره جوړښت نه کوي یو څوک غواړي چې د بوکس قهرمان شي مګر د غه هدف ته د رسیدلو استعداد نه لري

ځیني وخت د مور او پلار هیلی خپل ماشوم ته او د هغه امکا نات د تضاد سبب ګرځي. ځینی وخت دیوشخص نا مشخصه پوه د معرض سبب ګرځي . غیر منطقی انګیری شخص دمعینو کارونو د کولو څخه منع کوي ددي ډول انګیزو بد تضادونه د(اجتناب-A voidance-avoidance onflicts)تضاد په نوم یادیږي .

ماشوم نه غواړي چي درس ووایي او داهم نه غواړي چي په امتحان کې ناکام شي . او ځیني وخت فرد د بدکار کولو ته تشویقوي . مثلاً: یو څوک غواړي چي استراحت وکړی او په عین حال کې غواړي چي په چکر لاړشي یا ارزو لري چي سینما ته لاړشي مګر داهم غواړي د خپل پلار په میلمستیا کې شرکت وکړی. ددي ډول انګیزو څخه منځ ته را غلي تضادونه د تضاد (تقرب ) په نامه یادیږي . د تضاد په وړاندی د اشخاصو سلوکونه مختلیف دي یو څوک ددو کارو نو څخه یو انتخابه وي او امکان لري چي بل ددي دوه کارنو په منځ کې توافق وکړي او دا دواړه کارونه تر یو حده راضي کوي . ځینی کسان د تضاد سره د مخامخ کیدو په وخت کې ناارامه کیري . او شدید عاطفي عکس العمل له ځانه ښکاره کوي . که څوک له دوه داسي کارونو سره مخامخ شي چي دهغو په منځ کې سازش نشي کولي یا له یو او یادواړو کارونو څخه صرف نظر وکړي او د هغو د هغو کارونو پرځای بل کار پید اکړی معمولاً هیجاني (احساساتي ) کیږي او نشي کولي چي په صحیح ډول خپل سلوک کنترول کړي .د کوچنیانو هیجان په دي ډول کارونو کې د لویانو څخه زیات وی. کوچنیان غلباً دمور او پلارد مختلفو احسا ساتو په مقابل کې . دمور او پلار دویری او محبت احساس دهغه د تضاد سبب ګرځي د موراو پلار څخه خپلواکي او احتیاج هغو ته او یا له هغو سره علاقه هم د ماشوم د تضاد سبب کیږي

**اضطراب(Anxiety)** هیل ګارد «hilgard» اضطراب په درې یو ماناؤ بیان کړی ده .

١ – اضطراب تر ټولو مخکي له هر شی سره اول دوېري حالت ، نګراني او پرېشاني سره یو شان ده . اضطراب له وېري سره نېږدي اړیکی لري . اما وېره ده چي ځیني وخت د یو مبهم کار په مقابل کي منځ ته راځي او ځیني وخت ټکلي موضوع نه لري . په لنډ ډول ویلی شو چي اضطراب د مبهمی وېري په معنی ده

٢ – اضطراب د مبهمي وېري په ما نا هم استعمالېږي او داوېره له نا امني څخه ده . اضطراب په دي مانا اجتماعي جنبه لري .دسرچینی (منشا) په لحاظ هغه اجتماعي عمل ده . چي د کوچنیوالي څخه شروع کیږي په دي وخت کي ماشوم په خپل مور او پلار چي دده ساتنه کوي ډاډه وي .

د ماشوم سره د محبت نه کول او یا دمور او پلار بې خبري په ماشوم کي د ناامني احساس پیداکوي دغه احساس دماشوم دوېری سبب کیږی . دناامني څخه وېره اساسی اضطراب منځ ته راوړي همدا وېره ده چي ډېر کسان په هغي کي وراد کېږي . یا همدا وېره ده چي ډېرکسان ور سره مخ کېږی. ماشوم له دي کبله چي د خلکو څخه لري وي او یا د نورو محبت له لاس ورکړي په وېره اخته کېږي بنأ د ترس او اضطراب تر منځ فرق پدي مانا د عامل تر لاسه کولو پوري مربطه ده .امکان لري چي د شیانو پواسط وېر منځ ته راشی په داسي حال کي چي اضطراب یواځي د اشخاصو پواسطه ښکاره کېږي

٣ – اضطراب دنګراني او پرېشان له سلوک څخه او یا د تقصیر احساس ده . زه دهغو اعمالو د کولوپواسط چي مخکي یي تر سره کړی او نور دهغه متوجه نه و د تقصیر (ګوالي ) احساس کوم . مثلاً: ماشومان غالباً د مور او پلا ر د فرمان (امر ) څخه په تکلیف کېږي او عین حالکي غواړي چي خپل عشق او احترام څنګه دمور او پلار په مقابل کي ښکاره کړي . د مور او پلار څخه د نا فرماني د مور او پلار په نسبت ناوړه کار دي . ددي څخه وېره امکان لري چي د اضطراب منشا وګرځي . ځیني وخت وېر دوېری دښودلو څخه هم د اضطراب سبب کېږی دا امر په هغوموادو کي چي د وېري قانون منع کړی ده خصوصاً په نظامي خدماتو کي تحقق پیداکوي . د خپلو احساساتو په باره کي اضطراب یي له شکه د اضطراب د مهمو اشکالو څخه ده

## اضطراب په مختلیفو دورو کي

د ژوند په لمړنیو خلورو کلونو کي د مور د محبت ګوالی یا د هغي څخه محرومیت او په خپل وخت هغه ته د غذا نه رسیدل دماشوم د اضطراب (پرېشاني سبب ګرځي . هغه وخت چي ماشوم شیرکلن شي دحملي یا تعرض په وخت کي معرض ده که بدني تکلیف ورسوي دی په خپل مور او پلار باندي ډاډه وي پدي وخت کي ماشوم نا راحت کېږي . د بلوغ څخه مخکي ماشوم د اجتماعي مهارتونو سره اشنائي نه لری ،د پیښني سره د مخا مخ کیدو څخه وېره او هغه مسؤلیت دادارکولو توان نه لرل چي ټولنه یې شخص ته ور سپارې د شخص یا فرد د اضطراب یا پرېشاني سبب ګرځي

### د اضطراب شد ت

د واقع کیدونکي  خطر  په مقابل کې پر بشاني یو عادي کار دي . سر باز چي په جنګ کې ددبنمن له خوا ګر فتاریږي یا دبنمن له خوا ګرفتاریږي یا د دبنمن د حملي کولو  وخت نږدي(ژر ) احساسوي
معمولاً پدې وخت کې پریشانه کیږي پداسي وخت کې د پریشاني (اضطراب ) پیدا کیدل یو طبعي او معمولي کار دي اما که چیرته همدغه سرباز صلح په وخت کې او یاد دبنمن د حملي د خطر د له منځه تلو په وخت کې پریشانه (نارامه) کیږي پدي صورت کې دهغه وضع( حالت ) غیرعادي دي . ویلای شو چي عصبي ناارامي لري. څنګه چي د اضطراب د مانا په هکله وویل شول ځیني وخت دو بري په شکل بنکاره کیږي . په بعضي موارد و کې داخلي او اطرافی پریشاني سره همراه وي او ځیني وخت دعضلاتي حرکاتو سبب ګرځي . د اضطراب په وخت کې د هغه جریان د اختلاف سره مخ کیږي د زړه ضربان تیزیږي د ويني فشار پورته ځي او د ځینو غدواتو تر شحات زیاتیږي . دغه ډول تاثیرات د هغو افرادو په منځ کې چي په عصبي ګډوډي (اختلال) باندی اخته وي په شدید ډول ظاهریږي .
دفاعي سلوک :- دفاعي سلوک یعني هغه څه چي فردي  داضطراب او تشویش د له منځ وړلو لپاره تر سره کوي چي له ځیني جهتو غیر عادي وی له دي سببه داډول سلوک له ټولو خلکو څخه ظاهریږي او تقریباً د ټولو په منځ کې عمومیت لري چي کولې شی د هغه سلوک عادي کړي ماشوم د ژوند په لمړنیو وختونو کې د مور او پلار سلوک ته په ځیرنی سره خپل سلوک د مور او پلار  دسلوک سره یو شان جوړوي اوهڅه کوي هغه څه وکړي چي ددوی خوښ وي دژوند په ورسته دورکې هم هڅه کوي چي د خپلو همزولو د جلبولو  یا د مشرانو دتوجه  د جلبولو په منظور او یا د بنوونکي د توجه د جلبولو لپاره هم خاص کړه وړه تر سره کوي . څنګه چي یو فرد د ژوند په جریان کې نشی کولې ټول تمایلات او خپلي اساسی انګیزې  راځي کړي له دغو تمایلاتو څخه ورسته پاته کیږي او شخص اجباراً هغه هېروي اما دهغه وروسته پاته تمایلات فعالیت هم نه دریږي او بې له دي چي فرد متوجه شي یا بې له دي چي شخص ورته پام وشي په ډول ډول طریقو دهغه په سلوک تاثیر کوي .

### دفاعي سلوک دډیر و جهتو څخه غیر عادي دي څکه :

١ – د فرد دفاعي رفتار ( سلوک ) د شخص اساسي انګیزه یا تما یلات  نشی راځی کولي بلکه یواځي د خپلي نا ارامي د تسکین لپاره د دفاعي سلوک او کار لپاره اقدام کوي
٢ – دفاعي سلوک تریو حده  له مانع سره دبرخورد مخنیوي کوي مګر امکان لري چي فرد یا شخص  د نورو داساسی احتیاجاتو د پوره کولو څخه منع کړي . هغه زده کوونکي چي نشی کولي لوړي (عالي ) نمري بوسي مریض کیږي او دغه کار تر یو څه حده  دده دعالي نمرونه ترلاسه کول تقویه کوي او همدا مریضي دی په لو بو کې له ګډون کولو څخه منع کوي او په نتجه کې د بدن اساسي مهارتونه ته  توجه نه کوي ( په نظر کې بې نه نیسي )

٣ – دفاعي سلوک د شخصی کټي د لاس ته راوړلو او تمايلاتو ارضه کول دي او د خلکو په نظر دا ډول سلوک دعمومی ارمتيا مخا لف دي  او له نور سره د بدبيني سبب کيږي .

۴ – دفاعي سلوک  په ډير و وختونو کې د خپل ځان کم کڼلو او حقارت داحساس سبب ګرځی هغه څوک چي دايماً دمختليفو موانعو سره دبرخورد په نتجه کې دعاعي سلوک د افراط او مبالغي حد ته رسوي پدي صورت کې هغه غير عادي و پيژندل شي . ددفاعي سلوکو مطالعه د عادي خلکو او افرادو په پيژندنه کې هم ګټوره ده .د مختليفو دفاعي سلوکو پيژندل زموږ سره د نورو سلوک په پيژندنه کې مرسته کوي . هغه څوک عصبي او رواني ستونزي لري هميشه  پريشانه اونا‌ارامه وي .دا ډول خلک  د خپل ژوند دستونزو په حل کولو کې ناتوانه وي  د وړي ستونزی سره د مخا مخ کيدوپه  وخت کې نا ارانه کيږي او که د ماتي سره مخ شي شديد عاطفي عکس العمل له ځانه ښيي . غالباً دا خلک په بي ځايه ويره او پريشاني مبتلاوي. ځيني  ددوی تر خاص تصوراتي نفوض لاندی راځی او ځيني له د غو خلکو څخه او حتاً اکثرددغو خلکو په خپل نفس اعتبار نلري پدي صورت کې عصبي اختلافات شدت پيداکوي چي دغه شديدت د رواني بنظمي او شخصيت د ټيټوالي سبب ګرځي .

د دفاعي سلوک ډولونه :«فروئيد» د فاعي سلوک دهغه طريقي په ډول راښيي چي يو څوک يې د موانعو د له منځه وړلو او د اضطراب دپريشاني دپيداکيدو دمخنيوي له پاره استعمالوي يا تري استفاده کوي .

دغه طريقي عبارت له : مشابهت، وروسته والي ، دخپل کار نسبت بل چاته کول، عکس العمل ، بر ګشت او نور.

ځيني ارواپوهان د فاعي سلوک په دولو ويشي

١ – هغه سلوک چې د حملي او تعرض کولو سره همراه دي او ( مستلزم ) د ګډون کولو په مجموعي يا ټولو فعاليتونو کې دي.

٢ – هغه سلوک چې دډلي او تعرض له منځه وړونکې دي له اجتماعي موقعيت د منع اړولو سبب ګرځي .

ځيني پوهان دفاعي سلوک دهغه ذکاوت له مخې چې يو شخص په دفاعي سلوک کې کار تری اخلي طبقه بندي کړي او په دريو برخو يې ويشلي دي .

لمړي : عاطفي عکس العملونه دي چي ببي له فکر کولوله يو شخص څخه ظاهريږی لکه قهر، ويره

دوهم : په هغه فعاليتونه کې شامليږي چي يو شخص غوارې دهغه په واسطه له ګناه څخه ځان وساتي او د شرمنده (په زحمت ) کړي . چې ديو کار په کولو کې ناتوانه وي هغه بې ارزښت ګڼي او له هغه  څخه نفرت کوي او ځيني وخت د خپلو سلکو نسبت نو ر ته کوي .

دريم : هغه کارونه په کې شامل دي چي يو څوکې يې د خپل ځای ناستي دپيداکولو او اصلي هدف ته درسيدو لپاره تر سره کوي . دا ډول کارونه د سلوک دنور اقسامو په پرتله عقلانه او منطقي ښکاره  يږي . يو ډله پوهانو دفاعي سلوک په دريو ډلو ويشلي ده  . اول ډول دفاعي ميکانيزمونه چي د انکار شکل لري . په دوهم

ډول کې هغه اعمال شامل دي چې مستلزم د تيښتې او له يي ځايه موقعيتونو څخه لري والې . درېم هغه فاليتونه دي چي هدف او ځای ناستي په منظور تر سره کېږي . د زياتو معلوماتو لپاره دفاعي سلوک تر دريو عنوانو لاندې مطالعه کو و. انکارله واقعيت څخه .له وقعيت څخه تيښته ، او د ځاي ناستی انتخابول .

**له واقعيت څخه انکار: ساده انکا ر( sample denial)** ځيني وخت يو ځوک دخارجي خنډ ( مانع ) په مقابل کې تاب يعني مقاومت نه لرى او يا له هغه سره د مخامخ کيدو څخه ويره لري نو په دي ډول حالت کې انکار کوي . مثلاً : په امتحان کې ناکام پاته کيد . ددندي له لاسه ورکول . او نور حالت چې د شخص لپاره د تحمل وړ نه وي او دنه،نه، صحيح نه ده امکان نلري د کلمو په ويلو سره انکار کوی او هغه څه چي واقع شوي وي باور پرى نشی کولای . ځينې وخت انکار کول ددي سبب کرځي چي يو شخص څه ووينې او يا يي اوري هغه ته پاملرنه او تو جه نکوي . مثلاً ښوونکی په ټولګي کې درسي فعاليتونه په تر سره کولو خبري کوي او زده کوونکي ته د هغو تر سره کولو بې ګټې ښکاري نو له هغه څخه انکار کوي او نه غواړي چي دهغه په باره کې خبري وکړی او يا څه واوري او دښوونکي خبرو ته نه متوجي کيږي . ځيني خلک د هيله نه لري چي د خنډ ( مانع ) سره مخامخ شي . ددي دليل دادي چي هغوی د مانع سره مخامخ کيدو لپاره اماده ګي نلري نو په ديوخت کې انکارکوي او د خنډ (مانع ) دتشخيص کولو اواهميت څخه صرف نظرکوي . ددول انکار تريو ي اندازي ګټوره او دماشوم نو او لويانو ، سپن ږيرو په منځ کې هم ليدل کيږي . مګر خلک بايد بې له دي چې اماده ګې ونسي د خنډ مانع سره د مخامخ کيدو ويره ونه لري او هغه د رفع او له منځه وړلو لپاره لارس په کارشي .

**توجيه( Rationalization)** د فا عي سلکو له جملې څخه يو توجه په سلوک ښودل دي )په ورځيني ژوند کې ډير کارونه د جهل او ناپوهی او يا د تعصب د له مخې تر سره کېږي. مګر ځوک ددي ډول اعملو دتر سره کولو علت له موږ څخه و غواړي نو د هغه کار د پيښو علت مخفي کوو ( پټوو ) او هغه دليل چې په ښکاره ډول د اخلاقي عقلي او ديني مسائلو سره برابروي بيانوو .

ځيني وخت يو ځوک د ماتې او يا له خنډ (مانع) د مخامخ کيدو څخه ويره لري او دکار له کولو څخه انکار کوی ل که له هغه څخه د پښتنه وکړو چي ولې دي دا کارونه کړي ستړيا يا ناروغي ددي خنډ ( مانع) ګرځوي . دکار کولو بې له پاملرني او خبرتيا څخه صورت نيسي . څنګه چي مخې هغه تمايلات چي نه وی ارضا شوی دذهن په نا خبر برخه کې فعاليت کوی او غالباً دشخص د ناارامي او پريشانی سبب ګرځي . د نا ارمي د ډير والی له امله د شخص څخه يو کارترسره کيږي خو په عين حال کې نه غواړي چي ددغو فعاليتونو ته له هغو تمايلاتو سره ارتباط ورکړي چي هغه نه وي وړاندي شوی ( ارضا شوی نه وی ) له همدی امله خپلو اعملو ته ادامه ورکوي او په منطقي ډول خپل سلوک ته تفسير او تعبير ورکوي .

**خپل ځان په نورو کې ليدل (Rejection)** معمولاً وګړی داسی سلوک له ځان ښي چي خپله ګناه دنورو په غاړه کې وراچوي او دداسي سلوک په ښکاره کولو له ځانه څخه دفاع او دانکار رول لوبه له ځان څخه رفع مسؤليت ښيي . مثلاً : کوچني له خپلو همزولو سره جنګ کوي . او داسی تصور کوي چي او ل يي همزولي جنګ شروع کړي

نو له دي کبله خپله ګناه دهغه په غاړه کې ور اچوي یا کله چي زده کوونکی د ټولګی له قوانینو څخه سرغړونه کوي خپله ګناه د نورو ټولګوالو په غاړه ور اچوي او یا هغه زده کونکی چي سلوک یې ډیر خراب وي همیشه له استاد او زده کونکو څخه شکایت کوي او نه غواړي چي ښو خویو نو ته متوجی شی . او نه غواړي چي میل د تواضع په کې ولیدل شي . دکالوین په نظر او دفرویید په عقیده کله چي یوسړی د بل چا تر فشار لاندی راشی نو د اضطراب حات ځانته غوره کوي او په ځای ددې چي د اضطراب حالت ځانته معلوم کړي او هغه له ځانه څخه دباندي وګوري او ددې په ځای چي ووای ځه له هغه څخه نفرت لرم هغه وایی له له مانه نفرت کوي یا ددې په ځایه زه له خپل وجدان څخه په تنګ یم په دي صورت کې یو خارجي سړي د ځان مزاهم بولي ، سړي غواړي دخپلو اعملو په وسطه وښی چي ځان له شر څخه خلاصه کړي او ځان په خارجي مشکل باندي اخته کوي او له ځان ښه مقاومت ښکاره کوی اما د ډیر فشار سره د مقاومت توان نه لري او دفاعي سلوک یي تغیر کوی ، ددي لپاره چي خپل د اضطراب حالت را کم کړی یو بهانه لټوي تر څو خپل حقیقی احساس څرګند کړي .مثلاً : په سړي کې د تعرض تمایل موجود وي .که چیرته په عادي شرایطو کې هغه ظاهر کړي شاید د مشکلاتو سرمخا مخ شي . او ددي لپاره مجبور ده چي خپل دغه عمل تر یو حده پټه وساتي . کله چي غواړي خپل سلوک نورته وروښي .مثلاً: کله چي په دي متقید شي چي دنورو دنفرت وړ ګرځي . نو هغه خلک خپل دښمنان بولي او په تعرض کې ورسره ځان اچوي او دغه حمله خیالي وي . نو پدي اساس دده دغه حمله نه تنها بد رفتار بلل کیږي بلکي دګناه څخه هم ځان لري پاته شوي . په دی ځاي کې واضح کیږی چي سړی به بد رفتار څخه دفع کوله او نور یي په دغه ګنا محکوم کول ددغه دفاعي سلوک زیاتر وخت پدی خاطر تر ښیرني لاندي راځی چي سړی وغواړی نور په خپلو احساس تو کې شریک کړي : لکه یو نفر خوشحال وی داسي تصور کوي چي نور هم همدغه احساس درلودنکي دي . هغه سړی چي خوشحال وي غواړی چي نورهم په خوشحالي کې راګډ کړي دلیل یي په دوه شیانو کې کیداشي . اول داچي خپله خوشحالي هغه وخت په خطر کې ویني چي نورنا راحت وي . دوم داچي ممکنه ده چي ځان په تقصیریا ګمي کې احساس کړي او ځان شرمنده وبولي . مثلاً کله چي یو زده کوونکې ناکام پاته کیږی ددی لپاره چي خپله ناکامي پټه کړي وایي هغه پلاني هم ناکامه پاته شوي او په دغه دلیل باندی له ځان دفاع کوي

۴ – د تضاد عکس العمل (Reactionformation) کله چي احساس یا ارزو (میل ) شاته پاته شي داضطراب سبب کیږ ي په داسي فعالیتونو باندي لاس پورکوي چي هغه له احساس یا میل سره کاملاً په ټکر کوی . دغه ډول عکس العمل یا فعالیت ته متضاد عکس العمل ویل کیږی . فرض کړی چي دوه نفریو له بل سره د تعرض تمایل لري دواړه له ځان دفاع ښکاره کوي . ځکه چي ددوی دغه حالت له ځان اضطراب او پریشانی ښکاره کوی . نو په نوروکې ناراحتي احساس کوي او هیڅ وخت یي په ځان کې نه بولي او بل بیا د خپلی هیلي یا ارزو دپټ ساتلو لپاره د تعرضي فعالیت پر ځاي نسبت هغه چاته چي له هغه سره دښمني لري وروولي او دوستي یو ډول را منځ ته کوي او له هغه سره دوستي او محبت کوی نو ویلي شو چي محبت امیزه اعمل په خلکو کې له دومنبعو څخه سرچینه اخلي ځیني د بشر دوستي تمایلات د هغه د مهرباني سبب کرځي او ځینی دښمني دهغه محبت او

مهرباني سبب كېږي كله چي د نفرت احساس يو شخص ته دی پریشاني سبب شي د دی احساس  د پټولو لپاره د عشق او محبت د ځرګندوالي هیله لری باید په دی پوښو چي عشق او محبت ځای نه نسي ځکه نفرت هم پاته دي او فعالیت کي د عشق او محبت ځرګندول مثال لري چي په ظاهرډول په یو خاص رنګ کي ښکاره کيږی مګر په باطن کي هغه خپل حالت ساتي د حقیقی محبت او هغه محبت تر منځ چي دنفرت له امله منځ ته راغلی ځوشیان دی په معمولی ډول محبت دمبلغی دوهم ډول افراطي جنب لری . له ظاهریدو او ځان ښودني سره یو ځاي ده او یو شخص همیشه بي موقعی او بي وخت هغه ځرګنده وي د مثال په ډول دا چي د محبت  د ښکارکولو لپاره مجبوره ده تر ځو دهغه په وسیله واقعي نفرت پټه کړی په دایمي ډول هغه شخص ته محبت اظهار کوی متضاد عکس العمل دغیر عقلي دفاعي عمل په ډول ده چي پریشاني او ناارامي په وخت کي له یو فرد څخه ظاهریږی دا ډول عکس العمل زیاته انرژی مصرف کوي او فرد شورماشور او فریب یعني چل جوړولوته  هڅوی د متضاد عکس العمل تر سره کول د واقعیت دتغیر سبب ګرځي او د فرد شخصیت د انعطاف نه منونکي جوړه وی

## شپږم فصل

### عواطف

عاطفه څه شي ده : د ارواپوهني په اصطلاح د(اشفتګي ) او ( هیجان حالت  ته عاطف واي . يا په بل عبارت دارمتیا له لاسه ورکولو او طبعي حالت څخه وتلو ته عاطفه وايي . په دهغه وخت کي چي انسان د مختلیفو عواملو تر تاثیر لاندی راشي خپل عادی حالت له لاسه ورکوي د عواطفو ډولونه ( لکه قهر ، خستګي، حسد، او لویي او نور د هر انسان په ژوند کي لیژ او ډیر موجود وي . او نبني او نینباني يي دسلوک په ډول دبدن په سلامتي او خبروکي ښکاره کیږی چي په حقیقت کي دفرد دشخصیت  جوړونکي دي.
د عواطفو طبقه بندي :- دیکارت مشهور فیلسوف دانسان عواطف په شپږ ډوله ویشلي دي :- تعصب، عشق ، کینه ، شوق ، خوشحالی ، او غم د معاصري ارواپوهنی په څیړنوکي د انسان د عواطفو ډولونه زیاتوالي پیداکړی دی د بدنی عواطفو اغیزي : د عواطفو اثار او شواهدو ښکاریدل په یو شخص کي په د همغه شخص په شکل او سلوک اوهمداشان د کارکولو په بدني استعدادکي تغیر راولي مخنوی دداسی تغیراتو لکه ، خنداکول ، ژړا کول، او داسي نو ر ساختن کار نه د ی او خاصتاً هغه کسانو لپاره  چي د روحی حالت په پټه ولو کي مهارت لري او يا بیلعکس دستړيا په حالت کي ځانته خاص حالت غوره کړي . او دد اخلی تغیراتو څخه چي یوبخش د عطفی اثارتو ده هیڅ وخت مخنوی نشی کیداي .  د سختو عواطفو ښکاره کیدوبه وخت کي سترګي تورېږی له اندازی زیات جګه اواز په غوژ کي حس کوي . يخی خولی باندی راځی ، په ستوني کي فشار احساسه وي . د سترګو توری يي ګڼوډیږي . د زړه سرعت او قدرت د (درزا) يي  زیاتیږی او د وینی فشاريي هم زیات والی پیداکوی د زړه رګونه يي پړسیږي او وینه يي پستکی ته ځي له همدی کبله يي په شکله کي سوروالي پیداکیږي . او ویښتان په سرې کي نیغ دریږي . او تنفس يي غیر منظم کیږي . او د کلمو غوړوالي يي کمیږی . د معدی غوړ والی هم کموالي پیدا کوی او د غذ هضمه ول ورته

سختکیږي د ادرنالین ماده له وینه سره ګډیږي دهمدی اثار له امله بعضي تاثیرات رامنځ ته کیږی . د بټولو دندی تغیراتو علت چي په مختلیفو عواطفو کې پیداکیږی ددوه موازیانه شاخو ګډیدل سمپا تیک او پر سمپاتیک دي . چي معمولاً دبدن دستګا له عادی حالت څخه خارجه وي . مثلاً د ویني فشار جګیږی

**(ددروغو کشفول )** :- څنګه چي عاطفي حالات معمولاً له بدني تغیراتو سره یو ځای وي .یو امریکائي دلارسن په نامه یوه یو دستګا اختراع کړه چي د ویني فشار دزړه ضربان د تنفس اندازه او د بدن د پوست برقي عکس العمل په دقت سره اندازه کول او یو بل یوه هغه مکمله کړه او د دروغ کشفونکې یا دروغ سنج په نامه یې یاده کړه . دبدن په پوست باندی دزړه ضربان او په سینه باندي دادستګا اینبودلي شي تر هغه دوروغ ځواب ورکوي . هغه بدني تغیرات چي پریشاني او نارامي له امله دي دهغه پواسطه ښودل کېږی .

د عواطفو ګټه او تاوان : انسان ددوه ډول مطلوب او نا مطلو ب عواطف درلودنکی دی . یعنی ځینی عواطف غلباً د خوشحالي سره ملګري دي او ځینی نور ته تکلیف او غم سره همرا دي . قوي حرکت لرونکی عواطف دانساني فعالیتونو لپاره دي هغه کار چي په مینه او عشق شروع شی په ښه ډول پای ته رسیږي په هغه زړه کې چي رحم او شفقت وي پرمختګ کوي . مګر سره له دی چي د عواطفو ضرر د هغه له ګټي څخه زیات دی ځکه چي عواطف انسان په ژوند حکومت کوی نتجه یې ، کمزوری ، مریضي او نور شیان نه دی. احساساتي کسان غلباً په مرستي باندي شکمن وی خو ثابت رویه نه لری او په هیڅ شی باندی باور نه لري . معتدل مزاج لرونکي کسان معمولاً واقع بین وی ځکه په اجتماعي کارونو کې د احترام او قدر ورکړئي هغه څوک چي ژر خوشي عواطف کېږي . دبدني تاثیرات له امله اود عصبي فعالیتو نوپه وجه ډیر ژره فرسته کیږی څنګه چي وایي انتظار سترګي سپینه وي یا واي چي غصه دمعدی زخم پیداکوی . دا عقاید دي چي علمی اساس لری او د علمأ ازمایلي دی او علمي ازمیښتونو هغه تاید کړیدي نو ښوونکو ته لازمه ده چي د زده کوونکو عواطفو ته خاص توجه وکړي تر هغه ځاي پوری چي عواطف د هغه لپاره ګټور وي باید تربیه شی او له هغه عواطف چي مضر تماميږي باید مخنوی وکړي که زده کونکی له روحی او رواني بي نظمی سره مخ شی او ښوونکی پری نه رسیږی او په بل عبارت هغه تربیه کړی نه غواړی چي لوړ عمرکي دده له روحی عذاب سره څوک مخامخ شي کینه قهر حسد او انتقام اخستونکي وی او بلاخره د ټولو خیانتواو جرمونو ماده لري او دلته باید د روحی اورواني توازن اهمیت پوره ځیرنه وشی او د ا د ښونکی اساسی کار دي څنګه چي دغه مختصه یا د هغه د قهر حسد او ویری په بارکي چي دا معمولاً په ماشومانو او لویانو کې بد بختانه زیات وجود لري

**خشم او حسد**: له هغي عاطفي څخه عبارت دي چي د تمایلا تو دارضه کولو په اثر یا دخطر د احساس په نسبت اشخاصو یا شیانو ته پیدکیږي حسد او قهر یو ډول دي . چي یو ځای او یو ځای داسخاطر په واسط منځ ته راځی او انسان کوشش کوی ددی عاطفي دښودلو او اثارو مخنوي وکړی . قهر په ماشومانو کې او حسد په انجنو کې زیات لیدل کېږي . د قهر او حسد د پیدکیدو علت

١ – د ماشومانو د حركتو مخنوى يا د لويانو د كاركولو مخلفت كول
٢ – د عا جزى احساس كول او دكار په تر سره كولو كې ورسته پاته والي
٣ – فرد شخصيت دنورو نه پاملرنه او په هغه پورى په مربطه اموروكې مداخله
٤ – د خلكو مجبوره ول دهغه څه دقبلولو لپاره ده چې هغه يې خوښه وي او يا هغه كار ته مجبوره ول چې دېي استعداد نه لري
٥ – تحقير مسخره كول او تبعيض د خلكو په منځ كې د دخشم او حسد سرچينه ده

دقهر او حسد د مخنوى لارى: اول بايد چې كوچنيان ته خون سردى ورزده كړى او هغه ته په هر حال حوصله او صبركول وروښي

دوم بايد تر هغه اندازي ماشوم ته ازادي وركړو چې تر څو ځان وژني او كار په شروع كې دهغو د حال مراقب هم وى دريم: ماشوم بايد پوه شى چې هر څوک د هر كار استعداد نه لرى په هر كار كې مهارت درلودل په تجربه پورى مربط دي . بايد د دى فكر كولو قدرت ولرى تر څو په مناطق اودرست حساب سره دكارونو په منځ كې قضاوت وكړى . څلورم : ښوونكى بايد د ماشومانو د مهاتونو او فعليتونو لپاره تشويق كړى پنځم : د ماشومانو زياتره ناكامي د خپلى لارى د نه ژندلو په واسطه دى د لويانو د دنده ده چې د مرګ تر وخت په كشرانو مهرباني او حوصله وكړى

شپږم : له تمسخر لاس اچولو او توهين كولو دخلكو څخه بالخصوص د ماشومانو له توهين كولو څخه بايد جداً مخنوى وشي .

٧ : كاربايد د خپلي خوښي او د فهم او استعداد تر حده وي تر څو په مكمل ډول پاى ته ورسېږي
٨ : د موضوع په تغير كولو سره او د عصبانى شخص متوجه كول تازه مضوع ته تر څو د هغه قهر له منځ څخه ولاړ شي .
٩ جسمي قوه اوارادي پروربنت د عصبانيت مخنوي كوى

**ويره او كم روني** : ويره هغه وخت انسان ته پيداكيږي چې دده ځېنه په خطر كې او دهغه خطر له منځ وړلو كافي تواني احساس نه كړي خو كم روني عبارت د( مزمن ) څخه عبارت ده چې يو څوک د ماتي په وسيله طبع شوى وي . بايد و پو هيږي چې دغه عاطفه ډېر كوچينوالي دى او ورو ورو چې د جسمي قوه او دماغي تجربى زياتيږي د هغه شدت كميږي

### دويرى او كم روني علتونه :-

١ – ويره له ځينى اكتسابي شيانو څخه عبارت ده د شخص د تجربي په اثر يا له نورو څخه د تقليد پواسطه منځ ته راځى مثلاً :له حيواناتو څخه ويره يا له اروا او برق او نور څخه ويره
٢ – يواخي والي ، درد د اتكا د نقطي له لاسه ، مهيب غږونه ، تياري ، او نوري
٣ – له خيالى موجوداتو لكه ديو . او نور حيواناتو څخه ويره

۴ – د بلوغ په مرحله کې ويره د نورو د قضاوت څخه او باالخصوص د مخالف جنس له لاسه ورکول ارزښت او اعتبار په لنډ ډول نورو ته ښکاره کيږی .

۵ – دسترې يا لوړی ، مريضی، په حالت کې ويره او وحشت له عادي حالت څخه زيات وي .

۶ – د عقيدی د غلطو الې او کم روني د هغه لپاره چې په خطر تيريږي د ناکامي او ناتواناي څخه ويره

دويري او کم روني د مخنوي لاري :

۱ – د معلوماتو سطح پورته کول او علت او معلومول تر منځ او د امور او شيانو تر منځ رابط او دژوند د حقا يقو سره اشنا کيدل ډيره ويره له منځ وړی

۲ – د عقل له پروربنت سره کولوشی ډیر ه ويره کمه شي

۳ - داسی موقع ورکول چې هر څه په خپل تجربه کړی

۴ د دلاوری او شجاعت کيسي ورته کول تر څو د ويره له حالت څخه ځان وژغوري

۵ روحيه ورکول او د ډار مضوع روښانه کول

۶ ټولنيزو کارتو ته شويق او په دي کارکې ورسره پوره کمک کول

۷ بدني پروربنت او ورزش هم کولای شی له ډار سره مقابل وکړی

### د عوا طفو پروربنت په کوچنيانو کې

عاطفي پروربنت د کوچنيانو ژوند (عقلي ، جسمي ، ټولنيز) او نوري ټولي واقعي تر تاثيرلاندي راولي . (الوله لو) عبارت له هغه عکس العمل څخه ده چې کوچني ته په کلي ډول ارامي وربښي او دغه ته يو ډول هيجان ويلي شو او دغه هيجانات دده په ژوند کې نورهم زور پيدا کوي .لکه چې کوچني ته ستن ور لګوتول بدن کې يې لرزه احساسيږي او يا هر څوند چې د کوچني عمر زياتيږي په هغه اندازه يې هيجانات زياتيږي .کوچني په يو کلني کې ۵ مختليف عکس العمل له ځان سره لري چې عبارت له ( ښادي ، خشم ، ډار،تلاش، او احساسيت دي ، په اوسني وخت کې زموږ معلومات دکوچني په عاطفي او اجتماعي برخو کې ډير محدود دي او هيڅ دقيق معيار نشي کولاي چې دغه کيفات په مختليفو سنينو کې تعين کړي . مثلاً : کوچني په کوم عاطفي او اجتماعی موقف کې واقع دی . مګر دا يو مسلم نکته کيداشي چې عاطفي او اجتماعي پروربنت له جسمي او فکري پروربنت سره يوځای مخ ته ځي هغه کوچني چې خوشحال او خندانه وي . په ټولنه کې يو خاص ځاي لري اوله دي لري چې خپل موقف په ټولنه کې ساتي .که چيرته دغه نکتوته توجه ونشي کوچني په رواني مشکلاتو باندي اخته کيږي او هميشه ځان او نورو ته ازار رسوي .

**د کوچنی رواني مشکلات :** کوچني له دي خاطر په رواني مشکلاتو باندي اخته کيږي

۱ – د والدينو نه ځيرنه په خپلو اولادنو باندي

۲ – په اولادو نو کې حسادت

۳ – په کوچنیانو زیات کار کول . یازیات فشار رواستل

۴ – د والدینو نه شناخت له اروایوهني سره . او په نتجه کي نه درلودل د سالمي روزني او هغوي سره د خبرو کولو طرز . رواني مشکلات ممکنه دي چي له ( بی اشتهای . د ګوتی زول . په ادراره کي مشکلات کولای شي په کوچني کي رواني ستونزي را ښکاره کړي . دغه اثرات تر هغه وخت پوري کم والي نه پیداکوی چي د والدینو ترمنځ اجتماعي اړيکي نه وي را منځ ته شوي . مربیان باید کوچني یو ژوندي واحد له جسمي . فکری او اجتماعي نظره وبولی .کله چي قضاوت کو باید دکوچنی ژوند له مختلیف ابعاد (دکورنی وضعیت ، بیلابیل عادات ،لکه ویده کیدل له مور او پلار سره برخورد یا عکس العمل . له ګاوندیو سره وسیدل ، د ښوونځي رفتار او داسی نور باید ټول تر څیړنی لاندي ونیسودي مطلب ته په کتو سره باید ښوونکي تصمیم ونسي چي ایا په تنهای سره تصمیم نویداشي او یو سالم محیط ورته برابر ولي شي که لازم ده چي له رواني متخصیصنو څخه کمک وغواړي

۱ – بي اشتهاي :- کوچنی په مختلیفو وختونو کي او مختلیفو عمرونو کي په دغه دلیل باندي له ډوډی خوړلو څخه انکار کوي .

الف: د رواني پرورښت تیز والي او ده مور او پلار نه څیرنه .کوچني چي رواني پرورښت مکمل کړی نوپدي اساس انتظار لري چي ددغه عمل په واسطه دمور اوپلار توجه ځانته را جلب کړي

ب: له حده زیاته توجه او ټینګار په کوي ترخو کوچني ډیره ډوډی وخوري . مور او پلار داسی علاقه لري چي مغزدار شیان په کوچنی برخلاف د هغه د میل یعني همیشه خلاف د میلاني رفتار وکړی هغه په بی اشتهای باندي اخته کیږی

ج :- دغذا یا خوړو کیفات او پخوالی يي : هغه خواړه چي کاملاً نه وی پخه شوي د کوچنی نه خوښیږي په دغه خواړو همیشه اسرار هم سبب د بي اشتهاي په کوچنی کي کیداشي

د : نه امنیت اودناارمی احساس : معمولاً کورنی مشاجري . کورني جنګونه . د کوچنیانو په منځ کي اختلافت . د کوچني وهل ، له هغه څخه بی ځایه توقعات اد هغه څه دي چي کولای شي کوچنی په بي اشتهای ته مجبور کړي که چیرته په ماشوم کي دغه پورته ذکرشوي شیان ولیدل شي نو ددي علاج دپاره باید سالم او ارام چاپیریال برابر شی تر څو کوچنی به ښه توګه وکولای شی خپل ټول هغه څه چی دی یي غواړي ښکاره کړي .

دګوتی زول :- اکثر کوچنیان د شیدو خوړلو په دوره کي خپل ښه ګوته زوي چي دا یو طبعی امر کیداشی . ولی که چیرته له دوکلنی څخه ورسته تجاوز وکړي هغه په دلتنګي ، خستګي او نورو عنوانو باندي وي . او که چیرته له ۳ کلنی څخه هم تجاوز وکړي د یو روحی ضعف نوم والي شو او لازمه ده چي باید د متخصیصنو تر نظر لاندی ونیول شي .بعضی ځوانان او نوي ځوانان خپله ګوته زوي چي دا د متخصیصنو له نظر څخه یو روحي مرض ده او باید تر څیړني لاندي ونیول شي .

(مانندختر جواني دربرابرمادر ناتني خود به خاطر وجود علاقه كه بين پدرش و او مى باشد رنج مي برد وعكس العمل هيجاني او دربرابراين عمل جريان جويدني نخن است .

۳ – تيک Tic- تيک عبارت له هغه تيز و حرکتونو څخه ده چي د بدن د اعضا ؤاو نورو غړوکي تر ستګو کېږی او غير ارادی شکل لري ( سترګي وهل ، د اوږو ټکان ، شونډان ښکته راوستل او داسی نور .. د يو نوع تغير په عضلاتو کي را ولي . د والدينو بي ځايه توقعات هم کولای شی سبب د تيک شي . تيک په ۱۸ کلنی کي په کوچنيانو کي ليدل کېږي ولی معمولاً له شپږو نه ان د بلوغ تر دوری پوري ښکاره کيږی . ځکه چي ميل استعدادپيداکوي اوغواړي چي په ټولنيزو فعاليتونو کي شرکت کوي او دده دغه هيله هميشه دده د کورنی له مخليفته سره واقع کېږي او د کورنی له خوا څخه وهل کېږي او دغه عمل يي په ضمير که ځايه نسي او کولای شی په تيک صورت کي ښکاره شي او په رواني مرض باندی اخته کيږي .

**هيستری Hystry**:- رومبنيو دغه بيماري زياتره په ښځو کي بلل . دوي داسي عقيده دربوده چي د بيماری دښځو د رحم سره څه اړيکي لري . اماشارکوب د طبي نړي پلار او فرويئد (اترشي) دغه غلط عقيده د خپلو تحقياتو په واسطه له بين يوړه او داسی اعلان يي وکړ چي ښځه او نر شايد دواړه په دغه بيماري باندی اخته شي . د شارکوب په نظر تر اوس دوعلايم ددغه مرض ليدل شوی

الف : د مرکوزي احساس په سينه يا زړه يا غاړه کي

ب: د بحسي احساس د بدن په يو طرف کي

ج: د هيستری حمله

۲ – اضافی علايم :

الف : د مريض لاسونه يخ او ګرميږی

ب : ډير زيات هيجاناته لری او رنګ يي تغير کوي

دهيستری حمله مريض بی حال او بي حرکت کوی او په ځمکه باندی غورځوی . خبری نه شی کولای . په ځان پوهيږي ولی قادر په څه کولو نه وي . سترګي خلا صوي او بندوي او په اراده سره ويني هيستري بر خلاف دنورو بيماريو ده مثلاً :په نورو بيماريو کي مريض نشي کولاي په ځان قادر وي او هيستري بيمارکي بيا داسي نه ده مريض داسي وي لکه په خوب او نيمه خوب کي چي وي . پيرژانت (فرانسوي ) اروپوه په دي عقيده ده چي هغه کسان په هيستري باندي اخته کيږي چي معمولاً کم هوش وي لکه د يوي واقعي سره چي مخامخ شی په څه کولو قادر نوي . نشی کولای له ځان يو مثبت عکس العمل ښکاره کړي او په منفی عکس العمل باندي ځان مصروف ساتي او ځانته يوه دخوب زمينه برابره وي لکه يو ماشوم بعد له ډاره

او هیجان حالت څخه د مور لمني ته ځان رسوي او حالته ویده کېږي . جلبه مضوع دلته داده چي هیستري ممکنه ده چي هر مرض تقلید کړي لکه (فلج،ړندوالي ، او داسي نور

۵ - بي اختیاري : په کوچنیانو کې تر ځلور کلنی پوري لیدل کېږي . چي قادر په ایدراره نه وي . مګر په بضعي کوچنیانوکې له ۷-۶او یا ۱۴-۱۳ کېږي او نه شي کولای خپل ادیراره کنترول کړي په خاصه توګه دشپې محال . متخصیصن په دي عقیده چي دیو هیجان او د یوفشار په واسطه را منځ ته کیږي . دیو نوي کوچني پیداکیدل په کورنی کې اود والدینو نه پاملرنه ، ښوونځي ته نوي تګ ، له ښوونکو سره نوي سرورکار. کولای شي د ایدراره سبب شي . په نفس باور او داسي زمینه ورته برابرول چي دی په هغه کې لیاقت ، استعداد او بلاخیره د غذاي رژیم تغیر کولای شي دغه ناراحتي له منځ یوسي

## دمطالبو فهرست

لومړي فصل ........2
تربيتي اړواپوهنه ........2
ټولنيز رفتارونه ........7
دوهم فصل ........11
درفتار عوامل ........11
د انګيزي طبقه بندي يا ګووپ بندي ........11
دريم فصل ........17
زده کړه ........17
د زده کړي تعريف ........18
څلورم فصل ........27
فردي اختلا فات : ........27
رواني اختلافات ........28
جسمي اختلافات ........28
۳ - د کوچنيانو طبقه بندی ........32
پنځم فصل ........33
دفاعي سلوک او دهغوئ مختلف شکلونه ........33
مانع «ماتي» Frustration ........34
تضاد(confliction) ........35
اضطراب(Anxiety) ........36
اضطراب په مختلفو دورو کي ........36
د اضطراب شد ت ........37
دفاعي سلوک ددې و جهتو څخه غږ عادي دي ځکه : ........37
له واقعيت څخه انکار: ساده انکا ر( sample denial) ........39
توجی(Rationalization) ........39
خپل ځان په نوروکي لټول (Rejection) ........39
شپږم فصل ........41
عواطف ........41
(ددروغو کشفول ) ........42
خشم او حسد ........42
وېره او کم روني ........43
دوېرې او کم روني علتونه :- ........43
د عوا طفو پرورښت په کوچنيانو کي ........44
د کوچني رواني مشکلات ........44

......Hystry...................................................................................................................................... ەیستری

..........................46.........................................................................................................................................